دریيم دا چې په پټ او ښکاره دواړو حالتونو کې په سنتو برابر لمونځ وکړي، یعني داسي لمونځ ادا کړي لکه چې ستا وروستى لمونځ وي، حدیث کې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايي: **"بنده چې کوم وخت د خلکو مخامخ لمونځ کوي نو هم ښه په اطمینان لمونځ کوي او کله چې یوازې لمونځ کوي نو هم ښه په سنتو برابر لمونځ کوي، نو الله تعالى فرمايي: دا زما ریښتونى بنده دى".** [ابن ماجه: حديث صحيح]

څلورم دا چې کله یو بنده له منافقت څخه ډارېږده، نو دى مؤمن دى او که له نفاق څخه نه ډارېږده، نو بیا مؤمن نه دى بلکې منافق دى، امام بخاري -رحمه الله- په خپل صحيح کې فرمايي: (باب دى په بيان د دې کې چې مؤمن به له دې څخه وېره لري چې عملونه یې بربادې نه شي په داسي حال کې چې دى پرې خبر هم نه وي). [بخاري]

حسن بصري -رحمه الله- فرمايي: **د عمل له بابیزه کېدو څخه وېره نه لري مګر مؤمن سړى او د عمل له بربادېدو څخه نه په امن کې کېږي، مګر منافق انسان.**

پنځم/ که چېرته الله ورته دغه دوه صفتونه ورکړي وي نو پرې خوشحاله دې شي:

1- په دین کې پوهه او فقاهت.

2- ښائسته او نېک چلند.

لکه امام ترمذي -رحمه الله تعالى- له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت کوي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: **[دوه خصلتونه دي چې په منافق کې نه راجمع کېږي لومړى ښايسته او نېک چلند يعني وقار او سکينه، دوهم په دين کې پوهه].** [رواه الترمذي وهذا حديث حسن]

دغه راز په یوه روایت کې راځي عمر -رضي الله عنه- فرمايي: (علم زده کوئ او د علم لپاره سکينه او وقار هم زده کوئ، او د هغه چا لپاره تواضع کوئ چاته چې تاسي زده کړه کوئ او هغه چاته هم تواضع کوئ له چا څخه چې تعلیم حاصلوئ). [الخطيب في اخلاق الراوي ۱/۹۵]

شپږم دا چې د ایمان په توګو شعبو او برخو کې سوچ او فکر وکړه چې دغه توګې یا کومې کومې په تا کې شتون لري او کومې کومې شتون نه لري، همداراز د منافقانو صفات هم په خپل ځان کې ولټوه لکه دروغ، خیانت، وعده خلافي، د الله ذکر لږ کول، ریاکاري او په عبادت کې سستي کول، چې له دوی ځخه کومه نښه ستا د ژوند ملګري ده او کنه؟

د ایمان او نفاق نښې او ځانګړنې په قرآن او سنت کې په تفصیلي بڼه شتون لري، له هغو ځخه د هرې یوې مطالعه کول او خپل ځان په همغه آئینه کې کتل، دا هم د خپل حالت د معلوملو لپاره یوه ډېره غوره طریقه ده.

اووم په ځانګړې ډول کله چې یو زړه د الله له یاد او ذکر ځخه خالي و، نو د همدې زړه والا دې پوه شي چې دغه زړه له نفاق ځخه ډک دی، ځکه د منافقانو په ځانګړنو کې یوه ځانګړنه دا هم ده چې دوی له الله تعالی ځخه په غفلت کې وي، الله تعالی فرمايي: **(اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَٰنُ فَأَنسَىٰهُمْ ذِكْرَ اللَّهِ أُولَٰئِكَ حِزْبُ الشَّيْطَٰنِ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ الشَّيْطَٰنِ هُمُ الْخَٰسِرُونَ).** [سُورَةُ المجَادلة : 19]

ژباړه: شیطان وربانډې مُسلط شویدی او هغه د الله یاد د دوی له زړونو ځخه هېر کړی دی،دوی د شیطان د ګوند خلك دي. خبردار اوسئ! همدا د شیطان د ګوند کسان زیانمن دي.

د الله تعالی شان لدې ځخه ډېر پورته دی چې کوم زړه د الله ذکر کوونکی وي او د الله له مینې ځخه ډک وي، نو هغه زړه دې په کفر، غفلت او ریاکارۍ کې اخته کړي، ځکه چې الله سبحانه وتعالی په داسې زړه والا باندې ډېر غیرت کوي، نو د الله سبحانه وتعالی ذکر د مؤمن او منافق ترمنځ معیار او توپیر راوستوونکی دی، چې د همدې ذکر په واسطه یو له بل ځخه جلا کېږي، والله المستعان.

د الله ذکر ډېر ډؤلونه لري، لکه په ژبه، زړه، لاسونو، پښو، حال او عمل توګو سره ترسره کېږي.

اتم او که چېرته په یو چا د دروغو صفت وي، نو پوه دې شي چې په نوموړي کې د منافقت تخم راټوکېدلی دی، او د نفاق ریشې پکې کلکې شوې دي، ځکه د منافقت تر ټولو ستر اصل درواغ دي، نو ځوک چې له درواغو ځخه ځان ساتنه نه کوي او په دوامدار ډؤل یې وایي نو منافقت پکې خپلې ریښې کلکوي، او دا د منافقانو تر ټولو ځرګنده نښه ده، لکه په حدیث کې راځي: **" آیة المنافق ثلاث وإن صام وصلى وزعم أنه مسلم: إذا حدث كذب، وإذا وعد أخلف، وإذا أؤتمن خان".** [رواه مسلم]

نهم/ دغه راز کله چې د یو چا زړه د الله عزوجل ځخه واوړي، نو دا د منافقت ابتداء ده، نو بیا پکار ده چې لدې ځخه وېره وکړي او د خپل ځان د اصلاح کوښښ وکړي.

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وآله وصحبه اجمعین، والحمد لله رب العلمین.

په خپلو مالونو سره جهاد وکړئ

2 مقاله

ابو هريره رضی الله عنه وايي: چې نبي عليه السلام فرمايلي: که چيري زما سره د احد د غر برابر سره زر وی، نو زما خوښه به دا وه چه په ما باندې درې شپې هم داسې تيرې نه شي چه زما سره د هغې نه څه شی پاتې وي. مگر هغه چې زه يې د قرض د ادا کولو لپاره د هغې څخه وساتم.

الحمد لله الذي أمر بالإنفاق في سبيله، و يُضاعف فيه الأجر والثواب لمن يشاء من عباده ، والصلاة والسلام على من اجود الناس في خلقه أمابعد.

قال تعالى: فَإِنْ ءَامَنُوا بِمِثْلِ مَآ ءَامَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوا ... [سُورَةُ البَقَرَة : 137]

عزتمندو مسلمانانو ورونو!

تيره برخه کې د جهاد بالمال اهميت ، فضيلت او د نه کولو مذمت بيان شوی و ، دې برخه کې به هم د الله عزوجل په توفيق ستاسې مخ ته د جهاد بالمال مهم بحثونه وړاندې کړو لکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم ، د صحابه کرامو ، صحابياتو ، او تابعينو د جهاد بالمال مثالونه ، د جهاد بالمال حکم او داسې نور ...

د انفاق او جهاد بالمال عملي نمونې:

دا چې قران او سنت جهاد بالمال او انفاق في سبيل الله ته بار بار ترغيبات ورکړي نو رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه کرام هغه خلک وو، چې په قرآن او سنت اول عمل کونکي وو او د وروستني امت لپاره غوره نمونې وې ، نو په همدې اساس د رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه کرامو څخه دې باب کې نا اشنا او د عبرت نه ډک واقعات اهل علمو نقل کړي ، چې يو څو ته به يې د الله عزوجل په توفيق سره اشاره وکړو.

درسول الله صلی الله عليه وسلم سخاوت:

د نبي صلی الله عليه وسلم د سخاوت نمونڅ خو انسان له کومې زاويې وليکي!

هغه څوک چې د ځان څخه وروسته يې ميراث نه دی پريښی نو هغه به خامخا د سخاوت نمونه وي!

هغه څوک چې د جماعت څخه د سلام ګرځولو نه وروسته يوه لحظه مسجد کې نشي حصاريدای له دې وجې چې کور کې يې يوه تکره سره زر پاتې وو او هغه بايد صدقه شي، نو هغه به خامخا د سخاوت نمونه وي!

حديث کې راځي:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ، قَالَ: **" كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، أَحْسَنَ النَّاسِ ، وَكَانَ أَجْوَدَ النَّاسِ ، وَكَانَ أَشْجَعَ النَّاسِ...** (صحيح مسلم)

ژباړه: د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې: نبي صلی الله عليه وسلم د ټولو خلکو څخه ډير خايسته و او هغه د ټولو خلکو څخه سخي و او د ټولو خلکو څخه زړور و...

همدارنګه د نبي صلی الله عليه وسلم سخاوت تر دې حده و چې په ورکړه به يې کفار مسلمانان کيدل!

يو روايت کې راځي:

عَنْ مُوسَى بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَبِيهِ ، قَالَ : " مَا سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَلَى الْإِسْلَامِ شَيْئًا ، إِلَّا أَعْطَاهُ، قَالَ، فَجَاءَهُ رَجُلٌ، فَأَعْطَاهُ غَنَمًا بَيْنَ جَبَلَيْنِ ، فَرَجَعَ إِلَى قَوْمِهِ ، فَقَالَ : يَا قَوْمِ أَسْلِمُوا ، فَإِنَّ مُحَمَّدًا يُعْطِي عَطَاءً لَا يَخْشَى الْفَاقَةَ" (صحيح مسلم)

ژباړه: له موسى بن انس څخه روايت دی چې هغه يې له خپل پلار څخه روايت کوي، هغه وويل: له رسول الله صلی الله

علیه وسلم څخه د اسلام له وجې هیڅ شی نه غوښتل کیده، مګر هغه ته به یې ورکاوه، هغه وایي: چې هغه ته یو سړی راغی، نو هغه ته یې د دوه غرونو په منځ کې ګډې ورکړې، نو هغه خپل قوم ته راغی او ویې ویل: اې زما قومه اسلام قبول کړئ، ځکه محمد صلی الله علیه وسلم داسې ورکړه کوي چې له فقر څخه نه ویرېږي.

بل روایت کې راځي:

عَنْ صَفْوَانَ بْنِ أُمَيَّةَ ، قَالَ : " أَعْطَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ ، وَإِنَّهُ لَأَبْغَضُ الْخَلْقِ إِلَيَّ فَمَا زَالَ يُعْطِينِي حَتَّى إِنَّهُ لَأَحَبُّ الْخَلْقِ إِلَيَّ" (جامع الترمذي رقم:602)

ژباړه: له صفوان بن امیه رضي الله عنه نه روایت دی چې هغه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته د حنین په ورځ (مال) راکړ او هغه ماته تر ټولو خلکو زیات بد کس و، نو هغه ماته تر هغه وخته پورې (مال) راکاوه تردې چې هغه ماته په مخلوق کې تر ټولو محبوب شو.

نا اشنا خبره خو دا کوي :

قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ كَانَ لِي مِثْلُ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا يَسُرُّنِي أَنْ لَا يَمُرَّ عَلَيَّ ثَلَاثٌ وَعِنْدِي مِنْهُ شَيْءٌ، إِلَّا شَيْءٌ أُرْصِدُهُ لِدَيْنٍ" (صحیح البخاري)

ژباړه: ابو هریره رضی الله عنه وایي: چې نبي علیه السلام فرمایلي: که چیرې زما سره د احد د غر برابر س

ما باندې درې شپې هم داسې تیرې نه شي چې زما سره د هغې نه څه شی پاتې وي. مګر هغه چې زه یې د قرض د ادا کولو لپاره د هغې څخه وساتم.

د ابوبکر الصدیق رضي الله عنه سخاوت:

د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وروسته ابوبکر رضي الله عنه هغه شخص و ، چې په جهاد بالمال او انفاق في سبیل الله کې یې امت بله نمونه او مثال نلري. ابوبکر صدیق رضي الله عنه د شتمنۍ په جمعه کولو او ساتلو حرص نه درلود او نه یې د خپلو اولادونو او کورنۍ لپاره مال او دولت ساته، بلکې خپله شتمني به یې د نبي صلی الله علیه وسلم ، او د دین اسلام په دعوت او د هغه صحابه کرامو په خدمت کې لږوله چې مجبور به وو، او یا به د اسلام منلو له امله قریشو شکنجه کول، د هغوی د ازادۍ لپاره به یې خپله شتمني صدقه کوله.

د بلال رضی الله عنه واقعه له هغو څخه مشهوره ده چې د تاریخ او سیرت کتابونو لیکلې:

قال عطاء الخراساني: **"كنت عند ابن المسيب فذكر بلالا، فقال: كان شحيحا على دينه، وكان يعذب في الله، فلقي النبي -صلى الله عليه وسلم-، فقال: لو كان عندنا شيء، ابتعنا بلالا، فلقي أبو بكر العباس، فقال**

اشتر لي بلالا، فاشتراه العباس، وبعث به إلى أبي بكر، فأعتقه“ [سير أعلام النبلاء/بلال بن رباح / ومعرفة الصحابة]

ژباړه: عطاء خراساني وايي زه د ابن المسيب سره وم چې د بلال رضي الله عنه ذکر يې وکړ نو ويې ويل: هغه ډير په دين حريص و او د الله په خاطر ډير تعذيب کړای شو ، نبي صلى الله عليه وسلم ورسره مخامخ شو هغه وويل: کاش مونږ سره څه شی وای چې بلال مو اخيستی وای پس ابوبکر د عباس رضي الله عنه سره مخامخ شو نو (ورته) ويې ويل: بلال ما لپاره واخله ، عباس رضي الله عنه هغه واخيسته او ابو بکر صديق رضي الله عنه ته يې وليږه پس هغه ازاد کړ.

همدې له وجې به رسول الله صلى الله عليه وسلم ويل: ” **مَا لِأَحَدٍ عِنْدَنَا يَدٌ إِلَّا وَقَدْ كَافَيْنَاهُ مَا خَلَا أَبَا بَكْرٍ ، فَإِنَّ لَهُ عِنْدَنَا يَدًا يُكَافِيهِ اللَّهُ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ , وَمَا نَفَعَنِي مَالُ أَحَدٍ قَطُّ مَا نَفَعَنِي مَالُ أَبِي بَكْرٍ , وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيلًا أَلَا وَإِنَّ صَاحِبَكُمْ خَلِيلُ اللَّهِ**“ (جامع الترمذي رقم: 2623)

ژباړه : مونږ سره د هيڅ يو شخص څه احسان نشته مګر ما يې بدله ورکړيده ، سيوا د ابوبکر صديق څخه چې د هغه مونږ سره احسان شته ، د هغه د احسان بدله به الله تعالی د قيامت په ورځې ورکوي ، د بل چا له مال نه ماته دومره ګټه نه ده را رسيدلې هيڅکله، څومره چې د ابوبکر صديق له مال څخه رارسيدلې، او که زه نيونکی وم د خاص دوست لره نو خامخا به مې ابوبکر خاص دوست نيولی وای ، خبردار ستاسې ملګری(محمد صلي الله عليه وسلم) د الله خاص دوست دی.

راځئ چې د ابوبکر صديق رضی الله عنه د سخاوت نمونه له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه واورو چې هغه يې په اړه څه وايي!

عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ ، عَنْ أَبِيهِ ، قَالَ : سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، يَقُولُ : أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا أَنْ نَتَصَدَّقَ ، فَوَافَقَ ذَلِكَ مَالًا عِنْدِي ، فَقُلْتُ : الْيَوْمَ أَسْبِقُ أَبَا بَكْرٍ إِنْ سَبَقْتُهُ يَوْمًا فَجِئْتُ بِنِصْفِ مَالِي ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ” مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ ؟ ” قُلْتُ : مِثْلَهُ ، قَالَ : وَأَتَى أَبُو

بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ بِكُلِّ مَا عِنْدَهُ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ ؟ " قَالَ : أَبْقَيْتُ لَهُمُ اللَّهَ وَرَسُولَهُ، قُلْتُ : لَا أُسَابِقُكَ إِلَى شَيْءٍ أَبَدًا. (سنن ابي داود رقم:1431)

ژباړه: د زيد بن اسلم څخه روايت دی هغه يې د خپل پلار څخه روايت کوي چې هغه وايي : ما د عمر رضی الله تعالی عنهُ څخه واوريدل چې ويل يې: يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم مونږ ته حکم وکړ چې صدقه ورکړو، د رسول الله دا خبره برابره شوه چې زما سره مال و(پدې ورځوکې) نو ما وويل چې نن ورځ به زه د ابوبکر څخه مخکې کيږم د هغه ورځې نه که زه تري مخکې کيدم، ما د خپل مال نيمايي برخه راوړه، رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: د کور غړو لپاره دی څه پريښودل؟ ما وويل: د همدې په اندازه (يعنی نيم مال مې پريښود) هغه (عمر رضی الله عنه) وايي ابوبکر صديق رضی الله عنهُ ټول مال راوړ کوم چې د هغه سره و، رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: د اهل او عيال لپاره دې څه پريښودل؟ هغه وويل: هغوی ته مې الله او د هغه رسول پريښودل (عمر رضی الله عنه وايي) ما(زړه کې) وويل چې زه (د هيح خير په کار کې) ستا څخه مخکې کيدای نشم۰ ابوبکر صديق رضي الله عنه کې الله تعالی ډير عجيبه صفات راجمعه کړي وو، يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم د ملګرو احوال اخلي او ورته فرمايي: " **مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ صَائِمًا ؟، قَالَ أَبُو بَكْرٍ : أَنَا، قَالَ : فَمَنْ تَبِعَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ جَنَازَةً ؟ قَالَ أَبُو بَكْرٍ : أَنَا، قَالَ : فَمَنْ أَطْعَمَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مِسْكِينًا ؟ قَالَ أَبُو بَكْرٍ : أَنَا، قَالَ : فَمَنْ عَادَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مَرِيضًا ؟ قَالَ أَبُو بَكْرٍ : أَنَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَا اجْتَمَعْنَ فِي امْرِئٍ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ"** (صحيح مسلم)

ژباړه: په تاسو کې نن چا سبا کړ په داسې حال کې چې روژه دار و ؟ ابوبکر رضي الله عنه وويل: زه يم، هغه وويل: نن په تاسو کې څوک د جنازې پسې تللی(يعنې د مسلمان جنازه يې کړی)؟ ابوبکر رضي الله عنه وويل: ما وکړه، هغه وويل: نن په تاسو کې چا مسکين ته

طعام ورکړی ؟ ابوبکر رضي الله عنه وفرمايل: زه یم، هغه وويل: نن په تاسو کې چا د ناروغ پوښتنه کړې؟ ابوبکر رضي الله عنه وفرمايل: ما کړې، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: دا (اعمال) په یو کس کې نه جمعه کیږي مګر دا به جنت ته داخلیږي.

نو دا زمونږ د اسلافو د محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم د ملګرو د مالي جهاد او انفاق في سبيل الله نمونې وې، چې پدې باب کې څومره د اخلاص ځخه ډک وو!

پکار دا ده چې هر مؤمن د خپل پیغمبر او اسلافو لار خپله کړي ،ترڅو الله عزوجل ته هماغسې محبوب شي لکه هغوی چې ورته محبوب وو.

د عمر رضي الله عنه سخاوت:

د عمر رضي الله عنه سخاوت هم له پورته روایت ځخه معلومیږي، چې د الله په لار کې د خپل ټول مال نیمه برخه ورکوي چې دا هم وروکی عمل نه دی ، بلکې دومره په انفاق في سبيل الله حريص دی چې غواړي د ابوبکر الصديق رضي الله عنه ځخه هم دې باب کې مخکې شي .

همدارنګه عمر بن الخطاب رضي الله هغه ځمکه چې ترټولو ورته محبوب وه ، د الله عزوجل لپاره وقف کړه کومه ځمکه چې په خيبر کې هغه ته په برخه کې رسیدلې وه!

حديث کې راځی:

عَنْ ابْنِ عُمَرَ ، قَالَ : " أَصَابَ عُمَرُ أَرْضًا بِخَيْبَرَ ، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَأْمِرُهُ فِيهَا ، فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ ، إِنِّي أَصَبْتُ أَرْضًا بِخَيْبَرَ لَمْ أُصِبْ مَالًا قَطُّ هُوَ أَنْفَسُ عِنْدِي مِنْهُ ، فَمَا تَأْمُرُنِي بِهِ ؟ ، قَالَ : إِنْ شِئْتَ حَبَسْتَ أَصْلَهَا وَتَصَدَّقْتَ بِهَا ، قَالَ : فَتَصَدَّقَ بِهَا عُمَرُ أَنَّهُ لَا يُبَاعُ أَصْلُهَا وَلَا يُبْتَاعُ ، وَلَا يُورَثُ ، وَلَا يُوهَبُ ، قَالَ : فَتَصَدَّقَ عُمَرُ فِي الْفُقَرَاءِ ، وَفِي الْقُرْبَى ، وَفِي الرِّقَابِ ، وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ ، وَابْنِ السَّبِيلِ ، وَالضَّيْفِ لَا جُنَاحَ عَلَى مَنْ وَلِيَهَا ، أَنْ يَأْكُلَ مِنْهَا بِالْمَعْرُوفِ أَوْ يُطْعِمَ صَدِيقًا غَيْرَ مُتَمَوِّلٍ فِيهِ...(صحيح مسلم)

ژباړه: له ابن عمر رضي الله عنهما ځخه روایت دی چې عمر رضی الله عنه ته په خيبر کې ځمکه ورسيده ، نو هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی

چې د هغې ښځه یې مشوره غوښتله د هغې ځمکې باره کې نو هغه وویل: ای د الله رسوله ، په خیبر کې ماته څه ځمکه رسیدلې ، ماته ندی رسیدلی هیڅکله داسې مال چې هغه ماته له دې ښځه ډیر ګران وي، نو ماته د دې باره کې څه حکم کوئ؟ هغه وویل: که ته غواړې، نو عمر هغه په غریبانو ، خپلوانو، غلامانو، او د الله په لاره کې، او په مسافر او میلمنو صدقه کړه ، په هغه چا ګناه نشته چې د هغه ساتونکی وي چې په مناسب طریقه یې وخوري او یا یې ملګري باندې وخوري پرته له دې چې جمعه کونکی وي په هغې کې.

نو دا روایت دلیل شو هماغه غزوه چې ابوبکر رضي الله عنه پکې ټول مال وقف کوي او عمر رضي الله عنه ورکې نیم مال خرچ کوي ، عثمان رضی الله عنه دومره مال صدقه کړ چې د لښکر دریمه برخه یې تجهیز کړه، او د رسول الله صلی الله وعلیه وسلم له خاصي دعا څخه برخمن شو!

عَبْدُ الرَّحْمَنِ : فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَلِّبُهَا فِي حِجْرِهِ وَيَقُولُ : " مَا ضَرَّ عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ الْيَوْمِ مَرَّتَيْنِ" (جامع الترمذي: رقم 3663)

ژباړه: د عبدالرحمن بن سمره رضی الله عنه څخه نقل دي هغه وایي: عثمان رضی الله عنه له زر دینارونو سره رسول الله

نو اصل یې وساته (الله لپاره یې وقف کړه) او صدقه کړه (په میوو) د هغې سره ، هغه وفرمایل: نو عمر رضي الله عنه دا صدقه کې ورکړ، چې اصل به یې نه اخیستل کیږي او نه خرڅیږي، نه به میراث کیږي او نه به هبه کیږي ، هغه وایي: په سخاوت د عمر رضي الله عنه ځکه تر ټولو محبوب مال د الله عزوجل په لار کې خرچ کوي!

د عثمان رضي الله عنه سخاوت:

د عثمان رضي الله عنه سخاوت هم په اسلام کې د وروستنيو خلکو لپاره یو ښایسته نمونه ده حدیث کې راځي:

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ ، قَالَ : جَاءَ عُثْمَانُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَلْفِ دِينَارٍ ، قَالَ الْحَسَنُ بْنُ وَاقِعٍ : وَكَانَ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ مِنْ كِتَابِي فِي كُمِّهِ حِينَ جَهَّزَ جَيْشَ الْعُسْرَةِ فَيَنْثُرُهَا فِي حِجْرِهِ ، قَالَ

صلی الله علیه وسلم ته راغی، حسن بن واقع وایي: زما د کتاب په بل ځای کې و چې د (عثمان رضي الله عنه)دا مال په کڅوړه د هغه کې و ، چې کله یې لښکر د العسرة (تبوک) تیار کړ، نو هغه د (نبي صلی الله علیه وسلم) غیږ کې وشینده

(هغه مال) ، عبدالرحمن وايي: ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ولید چې په غیږ کې یې اړوه راړوه او ویل یې: له نن نه وروسته که عثمان هر څه وکړي، زیان به ورته ونه رسوي ، دوه ځل.

د دې ترڅنګ چې عثمان رضي الله عنه په جهاد بالمال کې برخه اخیسته او اسلامي لښکر یې مجهز کاوه او د نبي صلی الله علیه وسلم خوشحالي او دعاء یې هم اخیسته ، ترڅنګ به یې همداسې نور بنیادي صدقات هم کول چې د هغې د جملې څخه د بئر رومه (رومه کوهی) اخیستل وو ، د مسجد لپاره ځمکه وغیره اخیستل وو.

کله چې خوارجو عثمان رضي الله عنه محاصره کړ او اوبه یې وربانديې بندې کړې او مسجد ته یې د لمانځه لپاره نه پرېښوده نو دغه وخت یې د دې خبرو ذکر وکړ ، حدیث کې نقل دي:

عَنْ ثُمَامَةَ بْنِ حَزْنٍ الْقُشَيْرِيِّ ، قَالَ : شَهِدْتُ الدَّارَ حِينَ أَشْرَفَ عَلَيْهِمْ عُثْمَانُ فَقَالَ : ائْتُونِي بِصَاحِبَيْكُمُ اللَّذَيْنِ أَلَّبَاكُمْ عَلَيَّ ، قَالَ : فَجِيءَ بِهِمَا فَكَأَنَّهُمَا جَمَلَانِ , أَوْ كَأَنَّهُمَا حِمَارَانِ ، قَالَ : فَأَشْرَفَ عَلَيْهِمْ عُثْمَانُ , فَقَالَ : أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ وَالْإِسْلَامِ هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدِمَ الْمَدِينَةَ وَلَيْسَ بِهَا مَاءٌ يُسْتَعْذَبُ غَيْرَ بِئْرِ رُومَةَ ، فَقَالَ : " مَنْ يَشْتَرِي بِئْرَ رُومَةَ فَيَجْعَلَ دَلْوَهُ مَعَ دِلَاءِ الْمُسْلِمِينَ بِخَيْرٍ لَهُ مِنْهَا فِي الْجَنَّةِ ؟ " ، فَاشْتَرَيْتُهَا مِنْ صُلْبِ مَالِي فَأَنْتُمُ الْيَوْمَ تَمْنَعُونِي أَنْ أَشْرَبَ حَتَّى أَشْرَبَ مِنْ مَاءِ الْبَحْرِ ، قَالُوا : اللَّهُمَّ نَعَمْ ، قَالَ : أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ وَالْإِسْلَامِ هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ الْمَسْجِدَ ضَاقَ بِأَهْلِهِ ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " مَنْ يَشْتَرِي بُقْعَةَ آلِ فُلَانٍ فَيَزِيدَهَا فِي الْمَسْجِدِ بِخَيْرٍ مِنْهَا فِي الْجَنَّةِ " فَاشْتَرَيْتُهَا مِنْ صُلْبِ مَالِي ، فَأَنْتُمُ الْيَوْمَ تَمْنَعُونِي أَنْ أُصَلِّيَ فِيهَا رَكْعَتَيْنِ ، قَالُوا : اللَّهُمَّ نَعَمْ ، قَالَ : أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ وَالْإِسْلَامِ ، هَلْ تَعْلَمُونَ أَنِّي جَهَّزْتُ جَيْشَ الْعُسْرَةِ مِنْ مَالِي ؟ قَالُوا : اللَّهُمَّ نَعَمْ... (جامع الترمذي: رقم 3665)

ژباړه: له ثمامه بن حزن القشیري څخه روایت دی چې وایي: زه هغه کور ته حاضر شوی وم چې کله عثمان رضی الله عنه دوی(خوارجو) ته راښکاره شو او ویې ویل: ماته ستاسې هغه دوه ملګري راولئ چې زما پر ضد یې تاسي ته تیزي درکړې، هغه وایي: بیا هغوی دواړه راوستل شول ګویا کې دوه اوښان یا دوه خره پشان وو ، هغه وایي : عثمان رضی الله عنه دوی ته راښکاره شو او ویې ویل: زه تاسې نه په حق د الله او په حق د اسلام سوال کوم ، تاسې پوهیږئ چې د الله رسول صلی الله علیه وسلم کله مدینې ته راغی په دغه وخت کې مدینه کې خوږې اوبه نه وې، سیوا له بئر رومه د (رومه له څاه) څخه نو هغه وویل: څوک به د رومه څاه واخلي او د هغې بوقه د مسلمانانو د بوقو سره وګرځوي (یعني وقف یې کړي) په بدل د غوره له دې څخه جنت کې؟

(عثمان رضي الله عنه وایي) دا ما واخیسته د خپل خالص مال نه ، خو تاسې نن ما منعه کوئ چې زه اوبه وڅښم تر دې چې (ما منعه کوئ چې) زه د سمندر د (ترووو) اوبو څخه و څښم ، هغوی وویل: هو ای الله(یعني مونږ اقرار کوو) هغه وویل: زه تاسې نه په حق د الله او په حق د اسلام سوال کوم ، تاسو پوهیږئ چې مسجد (نبوي) په خلکو تنګ شو ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک به د فلاني خلکو هغه ځمکه واخلي ، چې د مسجد سره یې زیاته کړي ، په (بدل) د غوره د هغې څخه په جنت کې .

پس هغه ما واخیسته د خپل خالص مال نه ، خو تاسې نن ما منعه کوئ چې دوه رکعته لمونځ وکړم په هغې کې هغوی وویل: هو ای الله . بیا عثمان رضي الله عنه وویل:

زه تاسې نه په حق د الله او په حق د اسلام سوال کوم ، تاسې پوهیږئ چې جیش العسره ما له خپل مال څخه مجهز کړ ؟ هغوی وویل: هو ای الله (مونږ اقرار کوو)...

نو دا قصه دلالت کوي چې عثمان رضي الله عنه په خپل ژوند کې خپل

مال د دین په مختلفو شعبو کې خرچ کړی و ، که هغه د مسلمانانو د څښاک ضرورت و ، که هغه د مسلمانانو لپاره د مسجد د وسعت او پراخۍ مسئله وه او که د اسلامي لښکر مجهز کول وغیره و .

نو باید د عثمان رضي الله عنه ژوند او عمل زمونږ او ستاسې لپاره یوه اسوة حسنه وي ،چې مونږ هم خپل مالونه د دین په مختلفو بخشونو کې مصرف کړو.

د مختلفو صحابه کرامو د سخاوت نمونې:

١ـ انصار او مهاجرین:

کله چې صحابه کرامو مدینې منورې ته هجرت وکړ رسول الله صلی الله علیه وسلم د انصارو او مهاجرینو ترمنځ ورورولي قائمه کړه، دغه وخت کې صحابه کرامو خپل کورونه باغونه او ځمکې په خپلو مهاجرو ورونو صدقه کړې ، آن تردې چې بعضی صحابه کرامو وویل چې مونږ به دویمې ښځې طلاقې کړو کله یې چې عدت ختم شو نو مهاجرین دې په نکاح سره واخلي!

حدیث کې راځي:

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ , أَنَّهُ قَالَ : " قَدِمَ عَلَيْنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ وَآخَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ وَكَانَ كَثِيرَ الْمَالِ ، فَقَالَ سَعْدٌ : قَدْ عَلِمَتْ الْأَنْصَارُ أَنِّي مِنْ أَكْثَرِهَا مَالًا سَأَقْسِمُ مَالِي بَيْنِي وَبَيْنَكَ شَطْرَيْنِ ، وَلِي امْرَأَتَانِ فَانْظُرْ أَعْجَبَهُمَا إِلَيْكَ فَأُطَلِّقُهَا حَتَّى إِذَا حَلَّتْ تَزَوَّجْتَهَا ، فَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ : بَارَكَ اللَّهُ لَكَ فِي أَهْلِكَ فَلَمْ يَرْجِعْ يَوْمَئِذٍ حَتَّى أَفْضَلَ شَيْئًا مِنْ سَمْنٍ وَأَقِطٍ....
(صحیح البخاري)

ژباړه: له انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې هغه وویل: عبدالرحمن بن عوف مونږ ته راغی او رسول الله صلی الله علیه وسلم د ده او سعد بن الربیع تر منځ ورورولي قائمه کړه ، او دا ډیر مالدار و ، نو سعد وویل: انصارو ته معلومه ده چې زه یو له شتمنو څخه یم، زه به خپلې پیسې ستا او زما تر منځ په دوه برخو وویشم، او زما دوه میرمنې دي وګوره چې کوم یوه تاته خوښه وي زه به یې طلاقه کړم تر څو چې عدت یې ختم شي ته به هغې سره واده وکړې

عبدالرحمن وویل : الله دې ستا په کورنۍ کې برکت واچوي ، (ماته بازار وښایه چې تجارت وکړم هغه بازار ته لاړ تجارت یې وکړ) هغه په همدې

ورځ بيرته راونه ګرځيده تردي چې ګټه يې وکړه د غوړيو او پنير نه.

۲ـ ابو الدحداح رضي الله عنه:

ابو الدحداح رضي الله عنه هم نا اشنا د سخاوت نمونه وه ، حديث کې راځي:

عَنْ أَنَسٍ ، أَنَّ رَجُلًا ، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ ، إِنَّ لِفُلَانٍ نَخْلَةً ، وَأَنَا أُقِيمُ حَائِطِي بِهَا ، فَأْمُرْهُ أَنْ يُعْطِيَنِي حَتَّى أُقِيمَ حَائِطِي بِهَا ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " أَعْطِهَا إِيَّاهُ بِنَخْلَةٍ فِي الْجَنَّةِ " فَأَبَى ، فَأَتَاهُ أَبُو الدَّحْدَاحِ ، فَقَالَ : بِعْنِي نَخْلَتَكَ بِحَائِطِي ، فَفَعَلَ ، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ ، إِنِّي قَدْ ابْتَعْتُ النَّخْلَةَ بِحَائِطِي ، قَالَ : فَاجْعَلْهَا لَهُ ، فَقَدْ أَعْطَيْتُكَهَا ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " كَمْ مِنْ عَذْقٍ رَدَاحٍ لِأَبِي الدَّحْدَاحِ فِي الْجَنَّةِ " ، قَالَهَا : مِرَارًا ، قَالَ : فَأَتَى امْرَأَتَهُ ، فَقَالَ : يَا أُمَّ الدَّحْدَاحِ ، اخْرُجِي مِنَ الْحَائِطِ ، فَإِنِّي قَدْ بِعْتُهُ بِنَخْلَةٍ فِي الْجَنَّةِ ، فَقَالَتْ : رَبِحَ الْبَيْعُ ، أَوْ كَلِمَةً تُشْبِهُهَا (مسند أحمد و ابن حبان: 16/114)

ژباړه: له انس رضي الله عنه څخه روايت دی (هغه وايي) يو سړي رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل: ای د الله رسوله، د فلانی سړی د کجوري يوه ونه ده ، او زه د خپل باغ ديوال په هغې سره برابروم ، ته ورته امر وکړه چې دا ماته راکړي چې زه خپل ديوال ورباندې برابر کړم ، نبي الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: هغه ورکړه جنت کې د يوي کجوري په بدل کې ، هغه انکار وکړ، ابو الدحداح رضي الله عنه راغی ورته يې وويل: ستا کجوره په ما خرڅه کړه د باغ په بدل کې ، نو دا کار يې وکړ ، ابو الدحداح رضي الله عنه نبي صلی الله عليه وسلم ته راغی ورته يې وويل: ای د الله رسوله، ما په خپل باغ سره د کجورې ونه واخيسته ، هغه ما تاته درکړه ، د هغه لپاره يې وقف کړه ، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د ابو الدحداح لپاره به په جنت کې څومره غټ غونچکونه د ميوو وي، دا يې څو ځله وويل ، نو هغه خپلې مېرمنې ته راغی او ورته يې وويل: اې ام الدحداح له باغه راووځه، ځکه چې ما دا په جنت کې د کجوري په يوه ونه پلورلې، هغې ورته وويل: ګټه وکړه بيعې، يا په داسې يوه کلمه سره چې مشابه وه ورسره.

پورته حديث کې د صحابي نا اشنا انفاق بيان شوی ، يو دا چې يو باغ په يوه کجوره ورکوي د الله لپاره!

دويم دا چې په اخرت يې څه نا اشنا يقين دی ، د دنيا کجوري د اخرت په کجورو بدلوي!

دريم :د ابوالدحداح رضي الله عنه اوچت همت ، او د دوه متخاصمينو منځ کې اصلاح او د انفاق او د خير په کارونو کې سبقت او ايثارکول دا ټول د مؤمنانو لپاره يوه ښه نمونه ده.

۳ـ کعب بن مالک رضي الله عنه:

کعب بن مالک رضی الله عنه هم هغه شخصيت دی چې کله يې د تبوک د غزا څخه د پاتي کيدو توبه الله عزوجل قبوله کړه نو راغی او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وايي: **يَا رَسُولَ اللَّهِ ، إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي صَدَقَةً إِلَى اللَّهِ وَإِلَى رَسُولِ اللَّهِ ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " أَمْسِكْ عَلَيْكَ بَعْضَ مَالِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ " ، قُلْتُ : فَإِنِّي أُمْسِكُ سَهْمِي الَّذِي بِخَيْبَرَ** (متفق عليه)

ژباړه: ای د الله رسوله يقينا زما د توبې يوه برخه دا ده چې زه د خپل مال څخه وځم (يعنی خيرات کوم يې) د صدقې په توګه د الله او رسول الله صلی الله عليه وسلم لپاره ، رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: بعضې مال ځان سره وساته دا ستا لپاره غوره ده (کعب رضی الله عنه وايي) ما ورته وويل: زه به خپله هغه برخه وساتم چې په خيبر کې وه....

۴ـ عبدُ الله بن عمر رضي الله عنهما :

عن عبد الله بن أبي عثمان، قال: كان عبد الله بن عمر أعتق جاريته التي يقال لها رميثة، وقال: إني سمعت الله عز وجل يقول في كتابه: {لن تنالوا البر حتى تنفقوا مما تحبون} [آل عمران: 92] ، **وإني والله إن كنت لأحبك في الدنيا، اذهبي فأنت حرة لوجه الله عز وجل.**(حلية الأولياء

وطبقات الأصفياء: 1/295)

ژباړه: له عبدالله بن ابي عثمان څخه روایت دی چې وايي: عبدالله بن عمر رضي الله عنهما خپله هغه وینځه ازاد کړه چې رمیثه نومېده، او ویې ویل: ما اورېدلي چې الله تعالی په خپل کتاب کې فرمایلي دي: (تاسو نیکي نه شئ ترلاسه کولی تر څو چې هغه څه خرچ نکړئ چې تاسو ته خوښ وي) [آل عمران: 92]

په الله قسم چې زه یم چې په دې دنیا کې له تاسره مینه لرم ، لاړ شه پس ته د الله د مخ (رضا) لپاره آزاده یې.

بل روایت کې هم نقل دي:

عن نافع، عن ابن عمر رضي الله تعالى عنه: أنه كان لا يعجبه شيء من ماله إلا خرج منه لله عز وجل، قال: وكان ربما تصدق في المجلس الواحد بثلاثين ألفا...(حلية الأولياء وطبقات الأصفياء: 1/295)

ژباړه: د نافع څخه نقل دي هغه یې له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت کوي: یقینا هغه ته به یو څه نه و خوښ له خپل مال څخه مګر له هغې څخه به یې د الله لپاره ورکړه کوله ، هغه وايي :(ابن عمررضي الله عنهما) به کله په یو مجلس کې تر دیرشو زرو (روپیو) هم صدقه کوله.

۵ـ سعید بن عامر رضي الله عنه

هم یو له هغه صحابه کرامو څخه و چې د اسلامي امت لپاره د نورو اعمالو ترڅنګ په انفاق في سبیل الله کې غوره نمونه ده ، دا په حمص باندې د عمر رضي الله عنه له طرفه امیر و وروسته د أبو عبیدة رضي الله عنه څخه ، د سیرت او تاریخ کتابونو کې نقل دي چې : **بلغ عمر أنه قد أصابته جراحة شديدة، فأرسل إليه بألف دينار فتصدق بها جميعها، وقال لزوجته: أعطيناها لمن يتجر لنا فيها رضي الله عنه.**(البداية والنهاية:7/117)

ژباړه: عمر رضي الله عنه خبر شو چې هغه سخت تپي شوی دی، نو هغه ته یې زر دینار ولیږل، هغه دا ټول صدقه کړل او خپلې مېرمنې ته یې وویل: موږ دا هغه چا ته ورکړل چې زموږ لپاره پکې تجارت وکړي!

الله دي ورڅخه راضي شي.

٦ـ ابو طلحه رضي الله عنه:

عَنْ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ ، يَقُولُ : " كَانَ أَبُو طَلْحَةَ أَكْثَرَ أَنْصَارِيٍّ بِالْمَدِينَةِ مَالًا مِنْ نَخْلٍ ، وَكَانَ أَحَبُّ مَالِهِ إِلَيْهِ بَيْرُحَاءَ ، وَكَانَتْ مُسْتَقْبِلَ الْمَسْجِدِ ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُهَا وَيَشْرَبُ مِنْ مَاءٍ فِيهَا طَيِّبٍ ، قَالَ أَنَسٌ : فَلَمَّا نَزَلَتْ لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ سورة آل عمران آية 92 . قَامَ أَبُو طَلْحَةَ ، فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ ، إِنَّ اللَّهَ يَقُولُ : لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ سورة آل عمران آية 92 وَإِنَّ أَحَبَّ مَالِي إِلَيَّ بَيْرُحَاءَ ، وَإِنَّهَا صَدَقَةٌ لِلَّهِ أَرْجُو بِرَّهَا وَذُخْرَهَا عِنْدَ اللَّهِ ، فَضَعْهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ حَيْثُ أَرَاكَ اللَّهُ ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : بَخٍ ذَلِكَ مَالٌ رَابِحٌ ...(صحيح البخاري)

ژباړه: له انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی هغه وايي: ابوطلحه رضي الله عنه هغه انصاري وو چې په مدینه کې یې تر ټولو زیات د کجورو ونې درلودې او د ده تر ټولو ګران مال بیرحاء (باغ) وو چې مسجد ته مخامخ وو ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم به هغه ته ننوت او په هغې کې به یې اوبه څښلې چې خوږوالی پکې و ، انس رضي الله عنه فرمايي: کله چې دا ایات نازل شو "تاسو هیڅري نیکی ته نشئ رسیدای ، تر څو چې خپل خوښ شیان صدقه نکړئ "سورت آل عمران آیت 92.

ابو طلحه ولاړ شو او ویې ویل: ای د الله رسوله، یقیتا الله فرمايي: "تاسو هیڅري نیکی ته نشئ رسیدی ، تر څو چې خپل خوښ شیان صدقه نکړئ"، سورة آل عمران، 92 آیت. او ماته زما تر ټولو محبوب مال بیروحاء باغ دی، دا د الله لپاره صدقه دی، زه د هغه د خیر او اجر امید ساتم د الله په وړاندې ، پس ولګوه ای د الله رسوله! کوم ځای چې درته الله پاک ښودلی وي ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "تعجب" دا ګټه کونکی مال دی!

د دي په خير د نورو صحابه کرامو ښځه هم مختلف واقعات نقل دي چې هغوی به د الله په لار کې پراخه انفاق او خرچ کاوه.

د صحابیاتو سخاوت:

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ملګرو ترڅنګ په امت کې صحابیاتِ هم د مؤمنانو لپاره په انفاق في سبیل الله کې غوره نمونې دي، چې په اجتماعي او انفرادي شکل يې د الله په لار کې انفاق کاوه، يو روايت کې راځي:

ابن عباس رضي الله عنهما وايي : خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَصَلَّى ثُمَّ خَطَبَ وَلَمْ يَذْكُرْ أَذَانًا وَلَا إِقَامَةً ، ثُمَّ أَتَى النِّسَاءَ فَوَعَظَهُنَّ وَذَكَّرَهُنَّ وَأَمَرَهُنَّ بِالصَّدَقَةِ، فَرَأَيْتُهُنَّ يَهْوِينَ إِلَى آذَانِهِنَّ وَحُلُوقِهِنَّ يَدْفَعْنَ إِلَى بِلَالٍ ، ثُمَّ ارْتَفَعَ هُوَ وبِلَالٌ إِلَى بَيْتِهِ" (صحيح البخاري)

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم (عیدګاه ته) ووت، لمونځ يې وکړ، بیا يې خطبه وکړه، خو د اذان او اقامت ذکر يې ونه کړ، بیا ښځو ته ورغی، هغوی ته يې وعظ او نصيحت وکړ، د صدقې امر يې ورته وکړ، نو ما وليدلې (صحابياتِ) چې غوږونو او غاړو ته يې قصد وکړ(يعنی لاسونه يې وراوږده کړه چې راويې باسي) بلال رضي الله عنه ته يې ورکول، بيا هغه او بلال پورته شول خپل کور ته ولاړل.

همدارنګه په صحابیاتو کې بعضې زنانه داسې وې، چې د نورو تر منځ په انفاق في سبیل الله کې ډيرې مشهورې وې چې د هغې له جملې څخه:

۱ـ زينب بنت خزيمه الهلالية رضي الله عنها:

زينب رضي الله عنها د ډير انفاق او صدقاتو ورکولو له وجې په أم المساکين سره مشهوره وه،

عن الزهري، قال: تزوج رسول الله صلى الله عليه وسلم زينب بنت خزيمة، وهي أم المساكين، سميت لكثرة إطعامها المساكين، وهي من بني هلال بن عامر بن صعصعة، وتوفيت ورسول الله صلى الله عليه وسلم حي لم تلبث معه إلا يسيرا. [أخرجه الطبراني]

ژباړه: له زهري څخه روايت دی چې وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم له زينب بنت خزيمه رضی الله عنها سره واده وکړ، او هغه د مسکينانو مور وه، نوموړ شوی وه (په ام المساکين) له وجې د ډير طعام ورکولو نه مسکينانو ته، او هغه له بني هلال بن عامر بن صعصعة د خاندان څخه وه، دا وفات شوه او رسول الله صلی الله عليه وسلم ژوندی و او د هغه سره يې تير نکړ مګر لږ وخت.

۲ـ عائشه رضي الله عنها:

د ام ذره څخه روايت دی هغه وايي :

بَعَثَ إليها ابنُ الزُّبيرِ بمالٍ في غِرارتَينِ قالت: أُراه ثمانينَ ومِئةَ ألفٍ، فدعَت بطَبَقٍ وهي يومَئذٍ صائِمةٌ، فجَلَسَت تَقسِمُه بَينَ النَّاسِ، فأمسَت وما عِندَها من ذلك دِرهَمٌ! فلمَّا أمسَت قالت: يا جارِيةُ هَلُمِّي فِطْري. فجاءَتْها بخُبزٍ وزَيتٍ، فقالت لها أمُّ ذَرَّةَ: أمَا استطعْتِ ممَّا قَسَمْتِ اليومَ أن تشتري لنا بدِرهَمٍ لحمًا نُفطِرُ عليه؟! فقالت لها: لا تُعَنِّفيني، لو كنتِ ذكَّرْتِني لفعَلْتُ..(حلية الأولياء لأبي نعيم (2/ 47)، (صفة الصفوة لابن الجوزي (1/ 318).

ژباړه: ابن الزبير هغې(عائشې) ته په دوه لوښو کې پیسې ولیږلې، هغه وايي: زه ګمان کوم يولک اتيا زره وې، هغې يو لوښی راوغوښت او په دې ورځ روژه وه، کېناسته او په خلکو کې يې (دا مال) تقسموو، نو کله يې چې ماښام کړ له هغې څخه د هغې سره يو درهم هم نه و (پاتې)! کله يې چې ماښام کړ، هغې وويل: ای خادمې! زما روژه ماتی راوړه ، نو هغې ډوډۍ او غوړي راوړل، ام ذرة ورته وويل: آيا ستا د دې توان نه و د هغه نه چې نن دې خلکو کې (مال) تقسيم کړ چې په يو درهم دې غوښه اخيستی وی چې روژه ماتی مو ورباندې کړی وای؟ ته ما سختی کې مه اچوه، که تا ماته ياد کړی وای نو ما به دا کار کړی وای.

همدارنګه بل روايت کې نقل دي:

عروة بن الزبير د أم المؤمنين عائشې رضي الله عنها باره کې وايي : وَكَانَتْ لَا تمْسِكُ

شَيْئًا مِمَّا جَاءَهَا مِنْ رِزْقِ اللَّهِ إِلَّا تَصَدَّقَتْ. (صحيح البخاري)

ژباړه: هغې (عائشې رضي الله عنها) به هيڅ شى نه زخيره کاوه، د هغه مال نه چې الله به ورکړ مګر هغه به يې صدقه کاوه.

نو دا ډول روايت د عائشې رضي الله عنها په اعلى انفاق او په دنيا کې په بې رغبتى او زُهد دلالت کوي.

٣ـ زينب امرأة ابن مسعود رضي الله عنه:

د ابن مسعود رضي الله عنه ښځه زينب رضي الله عنها هم هغه زنانه وه چې د الله په لار کې يې په انفاق کې ډير شهرت درلوده .

حديث کې راځي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ مِنَ الصُّبْحِ يَوْمًا ، فَأَتَى النِّسَاءَ فِي الْمَسْجِدِ ، فَوَقَفَ عَلَيْهِنَّ ، فَقَالَ : " يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ ، مَا رَأَيْتُ مِنْ نَوَاقِصِ عُقُولٍ وَدِينٍ أَذْهَبَ لِقُلُوبِ ذَوِي الْأَلْبَابِ مِنْكُنَّ ، فَإِنِّي قَدْ رَأَيْتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ، فَتَقَرَّبْنَ إِلَى اللَّهِ مَا اسْتَطَعْتُنَّ " ، وَكَانَ فِي النِّسَاءِ امْرَأَةُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ ، فَأَتَتْ إِلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ ، فَأَخْبَرَتْهُ بِمَا سَمِعَتْ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَخَذَتْ حُلِيًّا لَهَا ، فَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ : فَأَيْنَ تَذْهَبِينَ بِهَذَا الْحُلِيِّ ؟ فَقَالَتْ : أَتَقَرَّبُ بِهِ إِلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ وَرَسُولِهِ ، لَعَلَّ اللَّهَ أَنْ لَا يَجْعَلَنِي مِنْ أَهْلِ النَّارِ .... (مسند أحمد: رقم 8663)

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم يوه ورځ د سهار لمانځه څخه وګرځيده ، نو جومات کې ښځو ته ورغى، پر هغوى ودريد او ويې ويل: اى د ښځو ټوليه! ما ندي ليدلى د عقل او دين (په لحاظ) نيمګړې چې د عقل خاوندانو زړونو دې واخلي د ستاسو نه ، يقينا ما وليدل چې تاسې د قيامت په ورځ اکثر خلک وئ د اور والا څخه ، نو هر څومره چې توان لرئ الله ته څه وړاندې کړئ ، په دې زنانه وو کې د عبدالله بن مسعود ميرمن هم وه، نو هغه عبدالله بن مسعود ته راغله او هغه ته يې په هغه څه خبر ورکړ چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يې اوريدلي وو ، او خپل زيورات يې راواخيستل، ابن مسعود رضي الله عنه ورته وويل: دا زيورات چيرته وړې؟ هغې وويل: په دې سره زه الله تعالى او د هغه رسول ته ځان نږدې کوم ، شايد الله تعالى ما له اور والاو څخه ونه ګرځوي...

نو عزتمندو دا زمونږ او ستاسې د امت هغه ميندې دي چې دوى هم په خپل عمل کې امت ته د انفاق في سبيل الله درسونه پريښې!

تابعينو کې د انفاق في سبيل الله نمونه:

انفاق في سبيل الله هغه د خيرونو او برکتونو څخه يو عمل دى چې هره زمانه کې ورته د الله نه ويريدونکو او مخلصو مؤمنانو وړاندې والى کړى .

د نورو تابعينو په شمول مرثد بن عبد الله رحمه الله هغه شخص و چې مسجد ته به بغير له صدقې نه تللو!

يو روايت کې راغلي:

عن يزيد بن أبي حبيب قال: كان مرثد بن عبد الله لا يجيء إلى المسجد إلا ومعه شيء يتصدق به، قال: فجاء ذات يوم إلى المسجد ومعه بصل، فقلت له: أبا الخير، ما تريد إلى هذا ينتن عليك ثوبك قال: يا ابن أخي، إنه والله ما كان في منزلي شيء أتصدق به غيره إنه حدثني رجل من أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال:" ظل المؤمن يوم القيامة صدقته (مسند أحمد: جـ 38/ 475صـ)

ژباړه: له يزيد بن ابي حبيب نه روايت دى چې وايي: مرثد بن عبدالله به تر هغه جومات ته نه راته چې داسې څه به ورسره نه وو، چې صدقه يې کړي ، هغه وايي : يوه ورځ جومات ته راغى او هغه سره پياز و ، ما ورته وويل: اى ابو الخير دې (پياز) ته دې څه اراده کړې ، دا به ستا جامې بدبويه کړي ، هغه وويل : اى زما وراره ، په الله قسم زما په کور کې داسې څه نه وو چې زه يې صدقه کړم غير له دې نه ، يقينا ماته د رسول الله صلى الله عليه وسلم له اصحابو څخه يو سړي د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کړى چې هغه فرمايلي: د

مؤمن سیوری به د قیامت په ورځ د هغه صدقه وي.

د امت د علماوو اقوال:

د انفاق في سبيل الله باره کې د اهل علمو اقوال راګیرول هم له وسعه بهر دي ، چې هر قرن کې یې امت ته د قران او سنت ترځنګ په خپلو نا اشنا اقوالو سره ترغیبات ورکړي ترڅو مسلمانان د دې عمل څخه بې پرواه نشي.

د نمونې په توګه به یې د یوڅو یادونه وکړو:

۱ـ امام ابن قیم رحمه الله

په (طریق الهجرتین وباب السعادتین:1/362) کې د اخرت په لحاظ د خلکو مراتب لیکلي چې شپږمه مرتبه کې یې مجاهدین في سبیل الله ذکر کړي او اومه مرتبه کې یې لیکلي:

الطبقة السابعة هم: أهل الإيثار والصدقة والإحسان إلى الناس بأموالهم على اختلاف حاجاتهم ومصالحهم, من تفريج كرباتهم, ودفع ضروراتهم, وكفاياتهم في مهماتهم.

اوومه طبقه هغوی: ایثار (قربانی) او صدقه ورکوونکي ، او له خلکو سره احسان کونکي دي په مالونو سره د هغوی د اړتیاوو او مصالحو ته په پام کې نیولو سره ، د دوی د مصیبتونو لرې کولو نه ، او د دوی اړتیاوو پوره کول ، او د دوی په کارونو کې کافي کېدل.

د ابن قیم رحمه الله مقصد د صدقو او انفاق ورکونکو مقام ذکر کول دي چې ادا د مجاهدینو پسې مرتبه لري چې ادا اوچت مقام دی.

۲ـ همدارنګه إمام ذهبي رحمه الله به ویل:

الشجاعة والسخاء أخوان، فمن لم يجد بماله فلن يجود بنفسه. (سير أعلام النبلاء للذهبي (19/ 235).

ژباړه: زړورتیا او سخاوت دوه وروڼه دي، نو څوک چې په خپل مال سخا ونه کړي، هغه هیڅري په نفس سخا نشي کولی!

۳ـ إمام نووي رحمه الله

وایي : **الصدقةُ حجةٌ على إيمان فاعلها، فإن المنافقَ يمتنع منها؛ لكونه لا يعتقدُها، فمن تصدَّقَ استدلَّ بصدقته على صِدْقِ إيمانه، والله أعلم.** (شرح النووي على مسلم :3/101)

ژباړه:صدقه په کوونکي د هغې د ایمان ثبوت دی، ځکه چې منافق له هغه څخه ځان ساتي، له دې وجې چې هغه وربانديي عقیده نه لري، نو څوک چې صدقه ورکړي، د هغه صدقې نه د هغه د ایمان په رښتینولی استدلال کېږي ، او الله ښه پوهیږي.

د جهاد بالمال حکم :

کله چې جهاد په مسلمانانو فرض عین وي نو جهاد بالمال هم د جهاد بالبدن په څیر فرض دی په هغه چا چې وس یې وي او الله یو څه حصه د مال ورکړې وي ، ځکه چې دې کې لوی مصالح د امت پراته دي ،چې هغه د مسلمانانو تقویت ، د شرک او مشرکانو ضعف، د الله د دین قیام او داسې نورې خبرې وربانديی مرتب دي ، او جهاد بالبدن بغیر له مال څخه نه قائمیږي لکه مخکې پیدې خبره شوې وه چې مال د جهاد لپاره تنه او روح دی او بغیر له دې د جهاد دوام نه ساتل کېږي او د دې لپاره اهل علم د ډیرو نصوصو څخه استدلال کوي چې د هغې له جملې څخه ځینې دادي:

۱ـ قرآن کې د جهاد بالنفس سره جهاد بالمال یوځای ذکر کیږي بلکې اکثر مواضعو کې یې الله عزوجل د جهاد بالنفس څخه هم مخکې ذکر کوي:

الله تعالی فرمایي: **انفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ** [سُورَةُ التَّوبَة : 41]

ژباړه: که سپك یاست که درانه (غزا ته) ووځئ او د الله په لار کښې په خپلو مالونو او په خپلو نفسونو سره جهاد وکړئ، دا ستاسې لپاره ډېره ښه ده که پوهیږئ.

همدارنګه بل ځای الله عزوجل فرمایي: **الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ أَعْظَمُ دَرَجَةً عِندَ اللَّهِ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ**[سُورَةُ التَّوبَة : 20]

ژباړه: د الله په وړاندې د هماغو خلکو درجه لوړه ده چې ایمان یې راوړ، د هغه په لار کښې یې هجرت وکړ(کور او کلی یې پرېښود) او په سر او مال یې جهاد وکړ، هماغوی

بریالي دي.

دارنګه سورة انفال کې فرمايي: **إِنَّ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَٰهَدُوا بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ ءَاوَوا وَّنَصَرُوٓا أُولَٰٓئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ** [سُورَةُ الأنفَال : 72]

ژباړه: کومو خلکو چې ایمان راوړ، دغه راز هجرت یې وکړ او د الله په لاره کښې په خپل سر او مال وجنګېدل او کومو خلکو چې مهاجرینو ته ځای ورکړ او له هغو سره یې مرسته وکړه، هماغوی په اصل کې یو د بل دوستان دي.

همدارنګه الله عزوجل فرمايي: **إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ ءَامَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَٰهَدُوا بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَٰٓئِكَ هُمُ الصَّٰدِقُونَ.** [سُورَةُ الحُجرَات : 15]

ژباړه: په حقيقت کې خو مؤمنان هغه دي چې پر الله او د هغه پر پيغمبر یې ایمان راوړ. بیا هغوی څه شك ونکړ او په خپلو مالونو او سرونو سره یې د الله په لاره کې جهاد وکړ. همغوی رښتیني خلك دي.

همدارنګه فرمايي: **لَّا يَسْتَوِي الْقَٰعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَٰهِدِينَ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ عَلَى الْقَٰعِدِينَ دَرَجَةً وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ وَفَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَٰهِدِينَ عَلَى الْقَٰعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا** [سُورَةُ النِّسَاء : 95]

ژباړه: له مسلمانانو څخه هغه کسان چې بې عُذره په خپلو کورونو کې ناست دي، او هغه کسان چې د الله په لار کې په مالونو او نفسونو جهاد کوي، د دواړو حیثیت یو شان نه دی، الله د ناستو په پرتله د هغو کسانو درجه چې په سر او مال جهاد کوي ډېره لوړه ګرځولې ده، که څه هم له هر یوه سره الله د ښېګڼې وعده کړېده، خو د هغه په وړاندې د مجاهدینو د خدمتونو بدله له ناستو کسانو څخه ډېره زیاته ده؛

مخکې مو د امام قرطبي رحمه الله تفسیر ذکر کړی و چې هغه وايي: **وقدم الأموال في الذكر إذ هي أول مصرف وقت التجهيز.**

ژباړه: مال يې اول ذکر کړ ځکه چې په وخت د تیارۍ کې اول مصرف د مال وي،

نو پورته ټولو نصوصو کې جهاد بالمال د جهاد بالنفس سره یوځای ذکر شوی اشاره ده چې جهاد بالمال هم فرض دی چې کله ضرورت وي .

له همدې وجې شيخ الإسلام ابن تيمية رحمه الله فرمايي: **ومن عجز عن الجهاد ببدنه وقدر على الجهاد بماله وجب عليه الجهاد بماله**...(الفتاوى الكبرى:5/537)

ژباړه: څوك چې په بدن سره د جهاد کولو نه عاجز شو او په مال سره جهاد کولو باندې قادر و په هغه مال سره جهاد کول واجب شو ...

۲ـ حدیث کې هم ذکر دي: **عَنْ أَنَسٍ ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ"** (سنن ابي داود:2146)

ژباړه: د انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د مشرکانو سره په خپلو مالونو ، نفسونو او ژبو جهاد وکړئ.

امام شوکاني د دې حديث په شرح کې وايي: **فيه دليل على وجوب المجاهدة للكفار بالأموال والأيدي والألسن. وقد ثبت الأمر القرآني بالجهاد بالأنفس والأموال في مواضع ، وظاهر الأمر الوجوب".** انتهى.(نيل الأوطار: 7/251)

ژباړه: په دې کې د کفارو سره په مال ، لاسونو او ژبو د جهاد د فرضیت ثبوت دی ، او په ډېرو ځايونو کې په نفس او مال سره جهاد ثابت دی په قراني دلیل سره او حکم يې فرض دی.

علامة صنعاني هم په (سبل السلام:(2/460) کې فرمايي: **"الْحَدِيث دَلِيل عَلَى وُجُوب الْجِهَاد بِالنَّفْسِ ، وَهُوَ بِالْخُرُوجِ وَالْمُبَاشَرَة لِلْكُفَّارِ , وَبِالْمَالِ وَهُوَ بَذْله لِمَا يَقُوم بِهِ مِنْ النَّفَقَة فِي الْجِهَاد وَالسِّلَاح وَنَحْوه , وَبِاللِّسَانِ بِإِقَامَةِ الْحُجَّة عَلَيْهِمْ وَدُعَائِهِمْ إِلَى اللَّه تَعَالَى ، وبالأصوات عند اللقاء وَالزَّجْر وَنَحْوه مِنْ كُلّ مَا فِيهِ نِكَايَة لِلْعَدُوّ"** . انتهى.

ژباړه: دا حدیث دليل دی په نفس سره د جهاد

کولـو پـه فرضیـت او دا عملي د کفـارو مقابـل کـې د وتلـو پـه معنـی دی ، او (دلیـل دی پـه جهـاد کولـو) د مـال سره او دا مصرفـول د مـال دي د هغـه څـه لپـاره چـې پـه جهـاد او اسـلحي وغیـره کـې کافي شي ، او دا پـه قـرآن کـې د یـو شـمیر آیتونـو څخـه معلومیـږي (لکـه) "او د هغـوی سره پـه خپلـو مالونـو او ځانونـو سره جهـاد وکـړئ" او پـه ژبـې سره جهـاد ، قائمـول د حجـت دي پـه هغـوی او اللـه تعالـی تـه پـه بلنـې سره ، او چغـې وهـل دي (د تکبیـر) د مخامـخ کیـدو پـه وخـت کـې (دښـمن تـه) او رټـل د هغـوی دي او داسـې نـور هغـه چـې پـه هغـی کـې ذلـت وي دښـمن تـه.

٣ـ همدارنګـه حدیـث کـې راغـلي:

أَنَّ عَبْـدَ اللـهِ بْـنَ عُمَـرَ رَضِيَ اللـهُ عَنْهُـمَا أَخْبَرَهُ " أَنّ رَسُـولَ اللِـه صَـلَّى اللـهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ ، قَـالَ : " الْمُسْـلِمُ أَخُـو الْمُسْـلِمِ ، لَا يَظْلِمُـهُ ، وَلَا يُسْـلِمُهُ... [صحیـح البخـاري: رقـم ـ 6465]

ژبـاړه: عبداللـه بـن عمـر رضي اللـه عنهـما خبـر ورکـوي چـې رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم وفرمایـل: مسـلمان د مسـلمان ورور دی نـه بـه وربانـدې ظلـم کـوي او نـه بـه یـې دښـمن تـه پریـږدي (چـې ظلـم وربانـدې وکـړي) .

اسـتدلال: (وَلَا يُسْلِمُهُ) مقصـد همـدا دی چـې دښـمن تـه بـه خپـل مسـلمان ورور نـه پریښـودل کیـږي بلکـې د هغـه دفـاع بـه کـوي کـه بالنفـس وي او کـه بالمـال وي.

لکـه حافـظ ابـن حجـر رحمـه اللـه وایـې: **"(وَلَا يُسْـلِمُهُ) أَيْ لا يَتْرُكُـهُ مَـعَ مَـنْ يُؤْذِيـهِ وَلا فِيـمَا يُؤْذِيـهِ ، بَـلْ يَنْصُرُهُ وَيَدْفَـعُ عَنْـهُ... وَقَـدْ يَكُـونُ ذَلِـكَ وَاجِبًـا وَقَـدْ يَكُـونُ مَنْدُوبًـا بِحَسَـبِ اخْتِـلاف الأَحْـوَالِ"** (فتـح البـاري: 5/97)

ژبـاړه: (د وَلَا يُسْـلِمُهُ معنـی دا ده چـې) نـه بـه پریښـودل کیـږي د هغـه چـا سره چـې هغـه تـه تکلیـف ورکـوي او نـه پـه هغـه څـه کـې چـې ده تـه ضرر ورکـوي ، بلکـې مـدد بـه یـې کـوي او دفـاع بـه د هغـه څخـه کـوي او دا کلـه واجـب وي کلـه مسـتحب وي د احوالـو بدلـون تـه پـه کتلـو سره.

همدارنګـه امـام نـووي رحمـه اللـه هـم فرمایـي : **"(لا يَخْذُلُـهُ) قَـالَ الْعُلَـمَاءُ : الْخَـذْلُ تَـرْكُ الإِعَانَـةِ وَالنَّصْرِ , وَمَعْنَـاهُ إِذَا اسْـتَعَانَ بِـهِ فِي دَفْـعِ ظَالِـمٍ وَنَحْـوِهِ لَزِمَـهُ إِعَانَتُـهُ إِذَا أَمْكَنَـهُ , وَلَـمْ يَكُـنْ لَـهُ عُـذْرٌ شَرْعِـيٌّ .** (شرح النـووي علـی مسـلم: 16/120)

ژبـاړه: علـماوو ویـلي دي: الْخَـذْل د مرسـتې او مـدد پرېښـودل دي، او د دې معنـا دا ده چـې کـه د ظـالم او داسـې نـورو پـه دفعـه کولـو کـې پـه هغـه سره مرسـته وغـواړي، نـو د هغـه سره مرسـته کـول واجـب دي، څومـره چـې ممکـن وي او کـوم شرعـي عـذر یـې نـه وي.

نـو معلومـه شـوه چـې د خپلـو مجاهدینـو ورونـو مرسـته او مـدد کـول پـه مـال سره ، او جهـاد بالمـال کـول پـه هغـه چـا فـرض دی چـې وس یـې لـري . اللـه متعـال دې مونـږ ټولـو تـه د جهـاد بالمـال د اداء کولـو پـوره توفیـق راکـړي .

عزتمندو مسلمانانو!

راتلونکـي برخـه کـې بـه د اسـلامي نظـام اقتصـادي منابـع او د باطـل پرسـتو تنظیمونـو پـه مـالي منابعـو او د دښـمن اقتصـاد تـه ګوزارونـه ورکـول او داسـې نـورو موضوعاتـو بانـدې بـه د اللـه عزوجـل پـه توفیـق خـبره کیـږي .

وصـلَّى اللـه وسـلَّم عـلى نبيِّنـا محمَّـد، وعـلى آلـه وصَحْبِـه اَجمَعِيـن.

***

٧

اسباب النصر والتمكين

برخه

اسباب الهزيمة:

د شکست اسباب.

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى صَدَقَ وَعْدَهُ وَنَصرَ عَبْدَهُ وأعزَّ جندهُ، وَهَزمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ، لاشيأً قبلهُ ولا شيأً بعده وأشهدُ أن محمداً عبدهُ ورسولهُ أما بعد.

قال تعالى: وَأَنَّ هٰذَا صِرٰطِى مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ ذٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ [سُورَةُ الأنعَام : 153]

عزتمندو مسلمانانو او مجاهدينو ورونو!

د نصرت او تمکين د اسبابو ترڅنګ بايد هر مؤمن او مجاهد دا هزيمت او شکست اسباب هم وپيژني او اجتناب ورڅخه وکړي ترڅو د دښمنانو پر وړاندې د شکست سره مخامخ نشي، دې موضوع ته بايد مجاهد ډير متوجه وسي ، دا خبري بايد پخې په خپلو ذهنونو کې کېنوي، ځکه قران اوسنت دې باب کې کلکې سپارښتنې کړي، هغه څوک چې د مسلمانانو هزيمت او شکست ته لاره هواروي او هغوی په قصدي شکل د مسلمانانو شکست لاملين ګرځي که هغه د جماعت څخه د جدا کېدلو په شکل وي، يا د ارجاف او تبليغ په شکل وي او يا د مسلمانانو د صف د توټه کېدلو په شکل وي د اسلام د هغوی د وژلو امر کړی ترڅو نور مسلمانان د دوی د شر او فساد او ناوړه اعمالو څخه په امن شي، ځکه شکست کې خو د مسلمانانو ذلت دی. شکستونو کې د مسلمانانو ابرو او عزتونه لوټ کېږي،د اسلامي امت شان او شوکت له خاورو سره خاورې کېږي، شکست کې دښمن ته تسليمي وي، شکست کې د اسلامي امت حياء او عزت د دښمن په لاسونو کې پريوځي، نو همدا وجه ده چې قران او سنت مونږ هميش د هغه عقائدو، اعمالو، اقوالو، او صفاتو څخه منعه کوي چې د هغه عاقبت او نتيجه شکست وي، نو له همدې وجې دا موضوع د رب العالمين په توفيق سره خپلو مجاهدينو ورونو، خوېندو او اسلامي امت ته واضحه کوو ترڅو د شکست د اسبابو څخه ځان وساتي او د ذلت سره مخامخ شي.

د هزيمت او شکست د اسبابو له جملې څخه:

١ـ اولنی سبب:

الانحراف عن الصراط المستقيم

د رب العالمين د مستقيمې لارې، او منهج څخه کږيدل.

د قران او سنت څخه کږيدل، د شکست يو اساسي سبب دی، بلکې

دا د هلاکت سبب دی . اکثر شکستونو سره چې مسلمانان مخامخ شوي ، او یا ورسره اوس مخامخ کیږي د دې اسباب اکثر داخلي وي، مؤمنانو کې داسې عقائد، او اعمال پیدا شي چې د هغې په سبب د قران او سنت او صراط المستقیم څخه کاږه شي اکثر قومونه چې رب العالمین هلاک کړي، رب العالمین یې سبب د همدې قومونو جرمونه او انحراف ذکر کوي.

الله تعالی فرمایي: **فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنبِهِ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُم مَّنْ أَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْأَرْضَ وَمِنْهُم مَّنْ أَغْرَقْنَا وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ** [سُورَةُ العَنكبوت : 40]

ژباړه: موږ هر یو د هغوی په ګناه سره ونیول بیا له هغو څخه په چا باندې موږ کاڼي اوروونکی باد ولیږه، څوک یوې قوي چاودني ونیول، څوک مو په ځمکه کښې ننیستل او څوک مو غرق کړل. الله پر هغوی باندې ظلم کوونکی نه ؤ، مګر هغوی خپله پر خپل ځان ظلم کاوه.

د صراط المستقیم څخه انحراف د شکست یو اساسي سبب دی ، بیا انحراف کله عقیدوي کله عملي وي:

اول: عقیدوي انحراف دا دی چې مسلمانان په شرکیاتو کې مبتلاء شي، قبر پرستی او پیر پرستی کې مبتلاء شي، د وطنیت او قومیت شرکي او کفري عقائد یې په زړه ورننوځي ، د مرتدینو او مشرکینو او د هغوی د مزارونو حمایت شروع کړي، د ارتداد او ایمان د نواقضو مرتکبین وګرځي، داسې خلکو سره بیا رب کله نصرت کوي بلکې رب یې بیا د ذلت فیصلې کوي ، رب بیا په هر میدان کې دا خلک د شکستونو سره مخامخ کوي.

په همدی اساس مجاهدین به د عقیدې په باب کې د خپل ځان څخه شروع تر رعیت پورې اصلاح کوي، مجاهدین به د توحید په عقیده سنبال وي د هغوی عقائد به په قران او سنت سنبال وي ، هغه عقائدو ته به خپل صف کې ځای نه ورکوي چې د قران او سنت خلاف وي کنه بیا به یې شکست په برخه وي.

دویم : عملي انحراف دی ، چې اعمالو کې د رب العالمین د سپیڅلی شریعت څخه کوم خلک منحرف شي بیا د هغوی ذلت او شکست

هم په برخه وي په کوم خلکو کې، چې بدعات، رسمونه او رواجونه پیدا شول، کومو خلکو چې د محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم سنت له خپلې معاشرې څخه وویستل ، اجتماعي او انفرادي ژوند څخه د دین اسلام احکام پورته شول ، او پر ځای یې بدعات او د غربیانو ، کفارو او مرتدینو په اوسني عصر کې رب العالمین دا قسم د شکستونو عملي نمونې دي امت ته د طالب په جامه کې وروښودې، تاسې وګورئ د قبر پرستۍ او پیر پرستۍ خو په دوی ورتمامه ده، د وطنیت او قومیت د عقائدو چیغې هم همدوی وهي.

د مرتدینو او شرکي مزارونو دفاع دوی کوي نتیجه یې همدا ده چې د کفارو پسې د کفارو د راضي کیدو او خوشحالیدو پسې یو لحظه ارام نکوي ، در په در ورپسې منډې وهي د هغوی نه اقتصادي او مالي طلبونه دوی کوي ،نور ذلت او شکست څنګه وي!!

نو د عن صراط المستقیم د الله عزوجل د سپیڅلې شریعت څخه کږیدل او منحرف کیدل دا د شکست اساسي سبب دی . همدا وجه ده چې رب فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِه ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ [سُورَةُ الأنعَام : 153]

ژباړه: او همدا (قران او سنت) زما سمه لاره ده، نو تاسې پر همدې لاړ شئ او په نورو لارو مه ځئ، چې هغه به تاسې له هغې لارې واړوي، تیت او پرک به مو کړي. دا هغه هدایت دی چې ستاسي رب درکړی دی،

لباس او جامه، اخلاق او عادات راغلل بس دا بیا ټول عملي انحراف دی ،چې عاملین یې رب د شکست سره مخامخ کوي.

در په در او دروازه په دروازه ګرځي او سوالونه ورته کوي، د هغوی نه د خپل ځان د امن طلبونه کوي، د خپل دولت رسمیت او العالمین مؤمنانو ته د دې خبرې ویره ورکوي چې د صراط المستقیم څخه که واوختئ نو هلاک کیږئ : وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا په کار ده چې تاسې له سرغړونې څخه ځان وژغورئ.

له دې ایات څخه معلومیږي، چې مؤمنان به خپله د

قانون مرجع او خپله تګلاره قران او سنت ګرځوي او د دې ځخه انحراف به نه کوي، که نه له دې وراخوا د شیطان او د هلاکت او شکست لارى دي .

تاسې وګورئ هر مؤمن د ورځې په لسګونه ځله په لمانځه کې خپل رب ته د دې خبرى زارى او سوالونه کوي چې:

اهْدِنَا الصِّرَطَ الْمُسْتَقِيمَ [سُورَةُ الفَاتِحَة : 6]

ژباړه: موږ ته نیغه لاره وښایه (او مونږ پدى لاره مضبوط کړه) شیطان هم همدې نقطې ته متوجه دى خپل کمین او سنګر یې په صراط المستقم جوړ کړى:

الله تعالى فرمايي:

قَالَ فَبِمَآ أَغْوَيْتَنِى لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرٰطَكَ الْمُسْتَقِيمَ [سُورَةُ الاٴعرَاف : 16]

ژباړه: (ابلیس) وویل: "نو ځنګه چې تا زه په ګمراهى کښې اخته کړى يم، زه به هم اوس ستا د سمې لارې په سر باندې دغو انسانانو ته (دګمراه) کولو لپاره کښینم .

د صراط المستقيم ځخه د انحراف په نتیجه کې د شکست ، ذلت او هلاکت ډیرى نمونې قران او سنت کې شته چې هغه خلک چې د صراط المستقيم او سم منهج ځخه کاږه شوي رب ځنګه معامله ورسره کړى ، الله عزوجل يې د عبرت لپاره مونږ او تاسي ته بيانوي چې له هغې د جملې نه:

اول: شیطان وګورئ هغه ځوک چې رب جنت کې زندګى ورکړى وه، د جنت اعلى نعمتونو کې اوسیده ... خو کله چې د رب العالمين د مستقيمي لارې ځخه کږيږى بيا د جنت په بدل کې ورته ځمکه او بيا جهنم انتخابيږى، بيا د رب د رحمت پر ځاى ورته لعنت انتخابيږى، او ټول عمر ذليله کيږى!

دويم: اقوام مکذبه هغه قومونه چې د پيغمبرانو تکذيب يې کړى و، د هغوى حال ستاسې مخ ته پروت دى، چې هغوى د کوم حالت سره مخامخ شوي وو.

دريم: بلعام بن بعورا وګورئ کله چې د صراط المستقيم ځخه کږيږي، بيا د مستجاب الدعوات د مرتبې ځخه د نجس سپي مرتبه ورکول کيږي.

الله تعالى فرمايي:

وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَٰهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوٰهُ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ [سُورَةُ الاٴعرَاف

: 176]

ژباړه: که موږ غوښتي وای نو هغه ته به مو د هغو ایتونو په وسیله لوړتیا ورپه برخه کړې وای، خو هغه د ځمکې (دنیا) لورې ته سر کوزی شو او د خپل نفس پیروي یې وکړه، نو د هغه حالت د سپي په شان شو.

نو عزتمندو که غواړو چې د رب لخوا مو عزت په برخه شي ، نصرت او کامیابي مو په برخه شي نو سبب یې همدا دی چې په قران او سنت کلکې منګولې ولګوو، همدا صراط المستقیم او نیغه لار ده او که چیرې مو همدا لار پریښوده انحراف راکې پیدا شو یا د انحراف اسباب راکې پیدا شول، بیا به مو ذلت او رسوايي په برخه وي بیا به د شکست او هلاکت سره مخامخ کیږو.

فائده:

غواړم یوې مهمې موضوع ته خپل مؤمنان ورونه متوجه کړم او هغه دا چې باید مجاهدین د عقیدوي او عملي انحراف اسباب وپیژني چې ولې مسلمانان د صراط المستقیم څخه اوړي او کږیږي؟ خاص طور جهادي جماعتونه چې د هغې بنیاد په ښه نیت کیښودلی شوی وي، او نیکان خلک یې په سر کې واقع وي، خو وروسته بیا کشران او وروستني خلک هغه منهج او تګلاره بدله کړي د قران او سنت پر ځای بیا د خپل خواهش لائحې جوړوي او هماغه یې دین او مذهب وګرځي لکه د پیغمبرانو د اتباعو باره کې هم رب العالمین فرمايي: **فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَوٰةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا** [سُورَةُ مَرۡيَم : 59]

ژباړه: بیا د دوی څخه وروسته هغه ناکاره خلکو د دوی ځای ونیوی، چې لمونځ (یا دین) یې ضایع کړ او د نفس د غوښتنو پیروي یې وکړه، نو نژدې ده چې هغوی د ګمراهی له عاقبت سره مخامخ شي.

نو دی نه معلومه شوه چې ډیر کرت د یو جماعت او ټولنې مشران نیکان خلک وي، خو وروستني خلک یې مسیر کوږ کړي او د قران او سنت د مسیر نه کاږه شي.

نو په همدې اساس هر مؤمن او مجاهد ته دا پکار ده چې هغه اسباب وپیژني چې د هغې له وجې په مسلمانانو کې انحراف رامنځته کیږي، خپله لاره او منهج بدلوي ، تر څو مونږ او تاسې په خپل منهج ـ قران او سنت ـ باندې محکم پاتې شو .

د صراط المستقیم څخه

دانحراف اسباب دوه قسمه دي.

اول : خارجي اسباب:

خارجي اسبابو کې يو دا دی چې مسلمانان د نورو دينونو څخه متأثره شي يا د هغوی په شيطاني جالونو کې مسلمانان راګير شي بس بيا نو د هغوی عقائد، عادات، اخلاق، ثقافت، تعليم، دا ټول د مسلمانو معاشرې ته راځي او مؤمنان ورباندې د قران او سنت څخه منحرف کيږي .

هغه خلک چې خارجي او غربي ملکونو ته د تعليم لپاره ځي د هغوی حال تاسی وګورئ هغوی د مسلمانانو معاشرو ته څه شی راوړي؟ بغير د سيکولر عقيدې ، سکولر نظام او اخلاق څخه هغوی بل شی نه دی راوړی ، همدغه خلک بيا دلته په مسلمانانو کې د غرب د عقائدو، اخلاقو او عاداتو د خپلولو دعوتونه کوي، د هغوی د اخلاقو او عادتو سره خلک اشنا کوي ، دين او اسلام بيا خلکو ته يو نيمګړی او نه تطبيقيدونکی نظام معرفي کوي.

نو په همدې اساس داسې اشخاص بيا د دين څخه منحرف شي.

دوهم ـ دخول بعض المغرضين من اليهود والمجوس ونحوهم في الإسلام بقصد الكيد للإسلام والمسلمين.

بعضی وخت يهود يا نصاری يا نور مستشرقين اسلام ظاهر کړي خو هدف او مقصد يې د اسلام او مسلمانو پر وړاندې دسيسې او مکرونه جوړول وي.

د مسلمانانو معاشرې ته راشي د مسجد او مدرسې او پوهنتون په نوم مسلمانانو کې داسې عقائد مروج کړي چې د صراط المستقيم څخه د اوختلو يو بنياد کيږدي، لکه د دې مثالونه به تاسې ژوند کې ډير اوريدلی وي.

دريم ـ وسائل الإعلام المقروءة والمرئية والمسموعة:

د ميډيا وسائل که د لوستلو په شکل کې وي که د ليدلو (ويډيويي) شکل او يا هم اوريدلو په شکل کې وي، د انحراف يو اساسی سبب دا هم دی ، چې دښمنان د مسلمانانو معاشرې ته داسې اعلام او ميډيا راوړاندې کړي چې هغه بيا په قسما قسم فسادونو مشتمل وي.

دښمنان د دې ډګر څخه د مسلمانانو د انحراف لپاره ډير کار اخلي هميش د اعلام له لارې د مسلمانو تر سترګو او غوږونو داسې مهلک او زهرجن تبليغات رسوي ،چې بيا اکثر خلک د قران او سنت څخه منحرف او کاږه شي ، داسې فلمونه، داسې کتابونه

او مقالې، داسې اخبار د مسلمانانو تر منځ نشروي چې هغه ټول د شر او فساد څخه ډک وي .

همداسې نور ډیر خارجي اسباب شته چې ټول دلته بیانول دا برخه اوږدوي نو په مختصر شکل مو ورته اشاره وکړه.

۲ـ دوهم قسمه اسباب د انحراف عن الصراط المستقیم څخه داخلي اسباب دي چې دا هم زیات دي مجاهد ته یې پیژندل ضرور دي، تر څو د انحرف څخه بچ شي چې د هغې له جملې څخه:

اول ـ الجهل: ناپوهي.

کله چې رعیت او مسلمانانو کې جهالت وي دا د انحراف یو اساسي سبب دی ، او څومره چې جهالت په مسلمانانو کې زیاتیږي، په هماغه اندازه به دوی د الله دین څخه لرې کیږي د قران او سنت او صراط المستقیم څخه به انحراف کوي،

ځکه یو سړی چې عقیده نه پیژني د عقیدې اهمیت ونه پیژني نو عقیده به څنګه وساتي!

ایمان او د ایمان قیمت او قدر یو سړي ته ندی معلوم، نواقض الایمان (ایمان ماتونکي) نه پیژني نو هغه به څه ایمان وساتي!

حق چې ونه پیژندل شي نو څنګه به یې یو سړی تابعداری او دفاع وکړي!

او باطل چې سړی نه پیژني نو د هغه نه به ځان څنګه وساتي!

نو په همدې اساس مجاهدینو کې به د تعلیم او تعلم سلسله همیش جاري وي، د تعلیمي مراکزو ترڅنګ به په هر سنګر او هر مرکز کې د مجاهدینو زده کړې رواني وي ، د خپل دین زده کړه به کوي، صحیح عقیده به یادوي د خپل دین او نظام څخه به ځان خبروي ، دا سلسله به هیڅکله نه قطعه کوي ، کوم نظام کې چې دا سلسله قطعه شوه افراد یې خپله د قران او سنت څخه منحرف کیږي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ژوند وګورئ د کورونو ترڅنګ مساجد یې هم مدارس او تعلیمي مراکز وو، نبوي مسجد کې اصحاب صفه دیره وو، دین یې زده کولو د خپلې عقیدې او منهج څخه یې ځان خبرولو، نو اولنی سبب د انحراف جهل او ناپوهي ده.

۲ـ التّعصُّب.

د صراط المستقیم څخه د انحراف دوهم سبب: د تعصب، ضد او عناد صفت دی چې کومو خلکو کې موجود شو بس دا د انحراف پر طرف روان شو چې عاقبت به یې همدا وي چې د شکست سره به مخامخ کیږي ، تعصب یوه پرده ده چې کله د انسان سترګې او زړه پټ کړي بیا حق پرستي کول او په صراط المستقیم پاتې کیدل ډیر ګران وي ، بیا تعصب کله قومي وي چې قومیت او قوم پرستي د صراط المستقیم څخه سړی منحرف کړي.

کله تعصب وطني وي، بعضی خلکو کې ژبنی تعصب وي، کله د مال او اولاد تعصب وي، کله تنظیمي تعصب وي چې دا ټول د انحراف اسباب دي.

همدومره مذمت او بدي یې بس دی چې د اسلام دین دا عمل د جاهلیت عمل ګڼلی او مؤمنان یې ورڅخه منعه کړي.

الله تعالی فرمایي: **وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللَّهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْإِثْمِ فَحَسْبُهُ جَهَنَّمُ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ** [سُورَةُ البَقَرَة : 206]

ژباړه: او کله چې ورته ویل کیږي چې له الله څخه ووېرېږه؛ نو اونیسي ده لره غیرت کول پر ګناه سره ، د داسې انسان لپاره جهنم کافي دی؛ او هغه ډېر ناکاره استوګنځای دی.

حدیث کې هم راځي:

عَنْ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّه ، يَقُولُ : " كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزَاةٍ ، فَكَسَعَ رَجُلٌ مِنْ الْمُهَاجِرِينَ رَجُلًا مِنْ الْأَنْصَارِ ، فَقَالَ الْأَنْصَارِيُّ : يَا لَلْأَنْصَارِ ، وَقَالَ الْمُهَاجِرِيُّ : يَا لَلْمُهَاجِرِينَ ، فَقَالَ رَسُولُ

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَا بَالُ دَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ ؟ قَالُوا : يَا رَسُولَ اللَّهِ ، كَسَعَ رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ ، فَقَالَ : دَعُوهَا فَإِنَّهَا مُنْتِنَةٌ" [صحيح مسلم]

ژباړه: د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه وايي: مونږ د نبي صلى الله عليه وسلم سره په غزا کې وو، نو يو سړي د مهاجرينو څخه يو انصاري (له شا څخه په لاس) وواهه ، انصاري وويل: ای انصارو (راورسيږئ) مهاجر وويل: اي مهاجرينو (راورسيږئ) رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل دا څه د جاهليت والا چيغې دي؟ هغوی وويل: دا يو سړي د مهاجرينو څخه يو انصاري(له شا څخه په لاس) وواهه ، هغه وويل: پريږدئ دا چيغې يقيناً دا بدبويه (خبرې) دي. همدارنګه تعصب هغه عمل دی چې محبت له منځه وړي، اتحاد او اتفاق له مينځه وړي، د ملګرو نه نيولی تر قومونو او قبيلو پورې همدا تعصب د عداوت او دښمنۍ اور بلوي. نو مجاهد به په خصوصي توګه له دې مرض څخه پاک وي او ددې پرې ځای به پکې ايماني اخوت موجود وي.

۳ـ التقليدُ الأعمى

دريم سبب د انحراف د صراط المستقيم څخه ړوند تقليد يا بې دليله خلکو پسې تلل دي. ړوند تقليد يا بې دليله خلکو پسې تلل هم سړی د صراط المستقيم څخه منحرف کوي ، همدا وجه ده چې ډير خلک په اوسني وختونو کې د کفارو ، سيکولرانو، مستشرقينو، او د فلاسفو عقائدو څخه متأثره شي دي ته نه ګوري چې دليل شته کنه بس په پټو سترګو وړپسې روان شي نو رب يې د صراط المستقيم څخه کاږه کړي ، همدې خبرې ته رسول الله صلى الله عليه وسلم هم اشاره کړې:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : " لَتَتَّبِعُنَّ سَنَنَ مَنْ قَبْلَكُمْ شِبْرًا بِشِبْرٍ وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ حَتَّى لَوْ سَلَكُوا جُحْرَ ضَبٍّ لَسَلَكْتُمُوهُ، قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى، قَالَ : فَمَنْ" [صحيح البخاري]

ژباړه: د ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه نقل دي چې يقيناً نبي صلى الله عليه وسلم وويل: تاسی به خامخا د مخکني خلکو د طريقو پسي روان شئ، لويشت په لويشت او ګز په ګز تر دې که هغوی د خادمی سوري ته ننوځي، نو تاسي به هم خامخا ورننوځئ ، مونږ ورته وويل: ای د الله رسوله يهود او نصاری (دي هدف دي) هغه وويل: نو څوک. امام ترمذي يو روايت نقل کړی چې مرفوعاً ضعيف دی ليکن موقوفاً د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه صحي دی چې هغه به فرمايل:

(لَا تَكُونُوا إِمَّعَةً ، تَقُولُونَ : إِنْ أَحْسَنَ النَّاسُ أَحْسَنَّا ، وَإِنْ ظَلَمُوا ظَلَمْنَا ، وَلَكِنْ وَطِّنُوا أَنْفُسَكُمْ، إِنْ أَحْسَنَ النَّاسُ أَنْ تُحْسِنُوا ، وَإِنْ أَسَاءُوا فَلَا تَظْلِمُوا).

ژباړه: تاسو امعه مه کيږئ (امعه هغه شخص چې د خلکو تقليد کوي او بې سوچه خلکو پسې روان وي)چې واياست: که خلکو ښه کول(په مونږ يا نورو خلکو) مونږ به هم ښه کوو او که ظلم يې کاوه(په مونږ يا نورو) مونږ به هم ظلم کوو، ليکن خپل نفسونه کلک کړئ ، که خلک ښه کوي تاسي هم ښه کوئ او که بد کوي تاسي ظلم مه کوئ.

۴ : اتباع الهوى والشّهوات

څلورم سبب د انحراف دادی چې کله د دين په باره کې انسان لا ابالي او بې پروا شي او د خواهشاتو لاره اختيار کړي د خپل ژوند ټول هدف يې ښځې، بچيان، مالونه،

سره او سپين وګرځول دا انسان هم د صراط المستقيم څخه منحرف شو چې د دې سره به يې شکست او ناکامي په برخه وي:

الله تعالى فرمايي:

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِينَ وَالْقَنٰطِيرِ الْمُقَنطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْأَنْعٰمِ وَالْحَرْثِ ذٰلِكَ مَتٰعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَاللَّهُ عِندَهُ حُسْنُ الْمَـَٔابِ [سُورَةُ آل عِمرَان : 14]

ژباړه: د خلکو لپاره نفسي غوښتني، ښځې، اولادونه، د سرو سپينو زيرمې، نښه شوي (کره) اسونه، څاروي او کرونډې د ډېرې مينې وړ وګرځول شويدي. خو دا هر څه د څو ورځني د نيوي ژوندانه وسايل دي، په حقيقت کښې چې کوم ډېر ښه استوګنځای دی، هغه له الله سره دی.

همدا سبب رب العالمين د پيغمبرانو د اتباعو ذکر کړی چې مخکې ورته اشاره وشوه چې هغوی هغه وخت هلاک شول او له صراط المستقيم څخه کاږه شول چې دين به يې د خواهشاتو له وجې پريښوده:

الله تعالى فرمايي:

فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَوٰةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا [سُورَةُ مَرِيَم : 59]

ژباړه: بيا د دوی څخه وروسته هغه ناکاره خلکو د دوی ځای ونيوی، چې لمونځ يا(دين) يې ضايع کړ او د نفس د غوښتنو پيروي يې وکړه، نو نژدې ده چې هغوی د ګمراهی له عاقبت سره مخامخ شي.

۵ـ الغُلوّ في الأولياء والصالحين:

د نيکانو خلکو په باره کې غُلو کول دا هم د انحراف يو سبب دی ، بعضې خلک راولړيږي او د خپلو علماؤ او شيخانو دومره قدر شروع کړي چې عاقبت يې داشي چې د الوهيت او يا يې د نبوت مرتبی ته ورسوي ولعياذ بالله.

د هغه د خبري له وجې د الله او د رسول حکم هم ماتوي، داسي خلک به څه په صراط المستقيم پاتې شي!

د شيخ محبت کې يې دومره غلو کړي وي که شيخ يې کفر ته دين ووايي دايي هم ورته وايي او که شيخ يې اسلام ته کفر وايي دا هم هماغسې روان وي .

دنيا کې شرک او کفر هم له همدې وجې راغلی چې د صالحينو او نيکانو خلکو باره کې خلکو غلو شروع کړه.

٦ـ الجليس السوء:

بد او خراب ملګری هم د انسان لپاره زهر قاتل دی ، او د صراط المستقيم څخه د انحراف يو اساسي سبب دی ، د رسول الله صلى الله عليه وسلم يوه لنډه خبره د انسان لپاره کفايت کوي چې هغه فرمايي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، " أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ : الرَّجُلُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ" [ابو داود]

ژباړه: د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: سړی د خپل دوست په دين وي پس ودې ګوري يو شخص ستاسې نه چې د چا سره ملګرتيا کوي.

۷ـ غفلة الناس عن تدبر آيات الله الكونية والشرعية:

د الله د کَوني او شرعي نښو څخه غفلت کول. ډېر خلک له دې وجې د صراط المستقيم څخه ګمراه شي چې د رب العالمين په نظام او کائناتو کې سوچ نکوي بل خوا کله چې مخلوق معمولی شی را مرکب او ترتيب کړي، نو ټول نظر او فکر يې همدی ته وي بيا نو لګيا وي د کفارو توصيف او تعظيم بيانولو باندې نه ميريږي!

حال دا چې دې مخلوق ته دا ټول اسباب زمونږ رب پيدا کړي خاص دوی يو ترتيب ورکړی.

د الله رب العالمين هغه بې شماره او د عبرتونو ډک مخلوقات دا انسان هير کړي که انسان يوائې د سورة ابراهيم دي اياتونو کې تدبر وکړي بس ورته کافي دي:

چې الله تعالی فرمايي: **اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضَ وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجَ بِهِۦ مِنَ الثَّمَرَٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِىَ فِى الْبَحْرِ بِأَمْرِهِۦ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْأَنْهَٰرَ [32] وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ** [سُورَةُ إبراهيم : 33]

ژباړه: الله هماغه ذات دی چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړل او له اسمانه يې اوبه ووروليې، بيا يې د هغو په وسيله تاسي ته د روزۍ رسولو راز راز ميوې پيدا کړې. هغه بېړۍ ستاسي لپاره په کار واچولې، چې په سمندر کښې د هغه په حکم روانې شي او سيندونه يې ستاسي لپاره په کار واچول.

او هغه لمر او سپوږمۍ ستاسي لپاره په کار واچول چې د قانون تابع چليږي. او شپه او ورځ يې ستاسي لپاره په کار واچول.

نو کله چې يو شخص دي دومره لوی نظام څخه عبرت نه اخلي ديکې تدبر نکوي او بل خوا د کافرو معمولی څيز ته په لويه سترګه ګوري دا خامخا د صراط المستقيم څخه منحرف کيږي.

خلاصه خبره دا چې د شکست او هزيمت لپاره اولنی سبب انحراف عن الصراط المستقيم دی او بيا د انحراف اسباب ذکر شول چې مؤمنان او مجاهدين به د دې اسبابو څخه په کلکه ځان ساتي، ترڅو د دښمنانو پر وړاندې د شکست سره مخامخ نه شي.

۲ـ دويم سبب: الإختلاف والتنازع.

اختلافات او جګړې کول.

کوم قوم کې چې اختلافات پيدا شول، منازعې او جګړې پيدا شوې بيا نو دا قوم او دا جماعت د زوال پر لور روان دی ، دا قوم به بيا ښه ورځ ونګوري، تر څو چې همدا مهلک مرض ورکې وي دوی به د شکست سره مخامخ وي! اختلافات يو ګنده او فاسد تخم دی کله چې دا تخم د مسلمانانو ترمينځ وکرل شو بيا د هغې حاصلات شرونه، جنګونه، مقاطعې، بغضونه او حسدونه دي دا ټولی بدبختئ بيا له اختلافاتو څخه پيدا کيږي .

بيا به مسلمان هميش لپاره د بل مسلمان پښې وهي، او د هغه د زوال تمنی او کوششونه به کوي، پّ اسلامي امت کې اختلافات د سرطان حيثيت لري، د سرطان عاقبت همدا وي چې انسان له منځه وړي د اختلافاتو عاقبت هم همدا دی چې شخص نه بلکې قومونه او جماعتونه له منځه وړي او د هلاکت سره يې مخامخ کوي. همدا وجه ده چې دی عمل څخه قرآن او سنت مؤمنان په کلکه منعه کړي او د اختلافاتو اضرار يې ورته بيان کړي، چې اي مؤمنانو د اختلافاتو څخه ځان وساتئ کنه هلاکيږئ.

الله تعالی فرمايي : **وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَٰزَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوٓا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّٰبِرِينَ** [سُورَةُ الأنفال : 46]

ژباړه: او د الله او د هغه د پيغمبر امر منونکي اوسئ؛ او په خپلو منځو کښې شخړه مه کوئ، که نه نو په تاسې کښې به کمزوري پيدا شي، برم (د مقاومت توان) به مو لاړ شي. له زغم څخه کار واخلئ، په يقيني توګه الله د صابرانو ملګری دی.

امام سعدي په خپل تفسير کې د دې ايات تفسير داسي کوي : **{وَلَا تَنَازَعُوا} تنازعا يوجب تشتت القلوب وتفرقها، {فَتَفْشَلُوا} أي: تجبنوا {وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ} أي: تنحل عزائمكم، وتفرق قوتكم، ويرفع ما وعدتم به من النصر على طاعة اللّه ورسوله.**

ژباړه: **{وَلَا تَنَازَعُوا}** اختلافات زړونه سره توټه او جدا جدا کوي، **{فَتَفْشَلُوا}** تاسي به بزدله شئ ، **{وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ}** ستاسي عزمونه به ختم شي او قوت به مو توټې شي او پورته به شي هغه څه چې تاسو سره د

الله د نصرت وعده شوي د الله او د هغه د رسول په طاعت سره. امام بغوي هم دي ایات کې ډېر اقوال د اهل علمو نقل کړي هغه وايي : (**وتذهب ريحكم**) قال مجاهد : نصرتكم .

وقال السدي: **جراءتكم وجدكم .**

وقال مقاتل بن حيان: **حدتكم .**

وقال النضر بن شميل: **قوتكم .**

وقال الأخفش: **دولتكم.**

ژباړه: امام مجاهد وايي چې (**وتذهب ريحكم**) معنى دا چې ستاسې نصرت (**به ختم شي**)

سدي وايي: ستاسې زړورتيا او د خلکو په نيز مرتبه به مو ختمه شي.

مقاتل بن حيان وايي: ستاسې قوت به ختم شي.

نضر بن شميل وايي: ستاسې قوت به ختم شي.

اخفش وايي: ستاسې دولت به ختم شي!

که قرآن او سنت کې مونږ او تاسې لږ سوچ وکړو رب العالمين مونږ او تاسې د دښمنانو د قوت او د هغوی د اسبابو او وسائلو او فوجونو څخه نه يو ويرولي ولو که هر څومره دښمن قوي شي او هر څومره اسباب او وسائل ورسره مضبوط وي ليکن الله تعالى دا امت د تنازع او اختلافاتو څخه ويروي چې (**وَلَا تَنَٰزَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ**) اختلافات مه کوئ کنه شکست سره مخامخ کيږئ ځکه دا د هلاکت او تباهی يو اساسي سبب دی.

په همدې اساس به امراء، مشران ملګري ولو که هغه په يوه کتيبه باندې امير وي يا په يو وړوکي ګروپ باندې امير وي خپل ما تحت به اختلافاتو ته نه پريږدي، خپله کتيبه او ګروپ کې به هغه خلکو ته ځای نه ورکوي، چې د مؤمنانو صف توټه کوي او د مجاهدينو لپاره د شکست سبب ګرځي.

ځکه هر مجاهد چې دی صف ته را داخل شوی دی هغې پدی خبرو وعده کړې چې (**الانتزاع الامر اهله**) مونږ به په کاروونو کې د امراو سره اختلافات او جګړې نه کوو (مګر که واضح کفر ورڅخه صادر شي) او د دې وعدې تر څنګ يې الله هم په همدې خبره ګواه کړی چې (والله على ما نقول شهيد) مونږ چې څه وايو الله وربانديې ګواه دی.

نو کله چې مجاهد د خپلې وعدې خلاف کوي او په خپل لوظ وفاء نکوي د داسې بې وفاء او بې وعدې خلکو بيا د فائدې نه نقصان زيات وي.

همدارنګه اختلاف هغه عمل دی چې مسلمانان خپله په ځان د الله دښمنان زړور کوي او هغوی ته جرئت ورکوي ځکه دا قانون دی چې (**الخلاف يؤدي إلى الفُرقة، والفرقة تؤدي إلى الضَّعف، والضعفُ يُجرِّئ الأعداء علينا**) د اختلافاتو له وجې امت او مسلمانان سره توټه توټه او جدا جدا کيږي، او همدا جدايي د مسلمانانو د ضعف سبب وګرځي او عاقبت يې دا شي چې د رب العالمين دښمنان په مسلمانانو جرئت مند شي.

اختلاف هغه عمل دی چې پدې کې دنياوي او اخروي دواړه هلاکتونه دي ، دا نه چې يوازې د دنيا شکست پکې دی او بس نه، بلکې د اختلافاتو سزا رب العالمين دردناک عذاب ذکر کړی ، داسې خلک به هم دنيا کې د خپلو دښمنانو له طرف د شکست او هلاکت سره مخامخ کيږي او اخرت کې دی ځان بيا د رب العالمين عذابونو ته تيار کړي .

الله تعالى فرمايي: **وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِن بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ** [سُورَةُ آل عِمرَان : 105]

ژباړه: پام کوئ! تاسې د هغو خلکو غوندې نه شئ چې په ډلو وويشل شول او له روښانه څرګندو لاربښودنو موندلو څخه وروسته بېرته په شخړو کښې اخته

شول، چا چې دا چلن غوره کړيدی، هغوی به سخته سزا وموميي.

قرآن او سنت هميش مؤمنانو ته د اتفاق او اتحاد طرف دعوت ورکوي، هميش اسلامي امت ته د اخوت او ورورولۍ درسونه ورکوي .

الله تعالی فرمايي: **وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا** [سُورَةُ آل عِمرَان: 103]

ژباړه: ټول يو ځای شئ، د الله رسۍ کلکه ونيسئ او تيت و پرک کيږئ مه. د الله هغه پېرزوينه در ياده کړئ چې پر تاسې يې کړېده: تاسي يو د بل دښمنان وئ، هغه ستاسې په زړونو کښې مينه واچوله او د هغه په مهربانۍ او لورينه تاسې سره ورونه ورونه وګرځيدئ.

حديث کې هم راغلي چې هغه انسان ته رسول الله صلی الله عليه وسلم د جنت ضمانت ورکوي چې د شخړو او اختلافاتو څخه ځان ساتي:

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَنَا زَعِيمٌ بِبَيْتٍ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْمِرَاءَ ، وَإِنْ كَانَ مُحِقًّا ،(سنن أبي داود) صحيح.

ژباړه: د ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: زه د جنت په يو طرف کې د جنت زيموار يم د هغه چا لپاره چې اختلافات پريږدي، اګر که دي حق والا وي.

دين اسلام کې د صلاة الجماعة، يا د جُمعې لمونځ، همدارنګه د اخترونو لمونځونه د زکات او حج فريضي د مشروعيت يوه فائده او حکمت هم همدا دی چې د مؤمنانو تر مينځ مينه محبت او ورورولي پيدا شي او يو په بل تسلي وشي يو پر بل مضبوط شي، حال احوال څخه يې خبر شی لکه حديث کې راغلي

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ ، قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، يَقُولُ : " مَا مِنْ ثَلَاثَةٍ فِي قَرْيَةٍ وَلَا بَدْوٍ لَا تُقَامُ فِيهِمُ الصَّلَاةُ إِلَّا قَدِ اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ، فَعَلَيْكَ بِالْجَمَاعَةِ، فَإِنَّمَا يَأْكُلُ الذِّئْبُ الْقَاصِيَةَ" (سنن أبي داود).

ژباړه: د ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي: ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې ويل يې: نشته دري کسان په يو کلي يا بانده کې چې نه قائميږي په هغوی کې لمونځ (د جماعت) مګر شيطان پر دوی مسلط کيږي پس لازم دی پر تا جماعت پس يقيناً ليوه خوري هغه جدا شوی ګډه (د رمې څخه).

په همدې وجه مدينه کې رسول الله صلی الله عليه وسلم تر ټولو د مخه د صحابه کرامو تر منځ، د اوس او خزرج تر منځ د انصارو او مهاجرينو ترمينځ ورورولی قائمه کړه په همدې وجه چې حسدونه، کينې، اختلافات د مسلمانانو تر منځ نه وي ، ځکه اختلافات رب ته ندي خوښ او ناکاره عمل دی ، بل حديث کې هم راغلی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "إِنَّ اللَّهَ يَرْضَى لَكُمْ ثَلَاثًا وَيَكْرَهُ لَكُمْ ثَلَاثًا ، فَيَرْضَى لَكُمْ أَنْ تَعْبُدُوهُ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا ، وَأَنْ تَعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا ، وَلَا تَفَرَّقُوا، وَيَكْرَهُ لَكُمْ قِيلَ ، وَقَالَ ، وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ، وَإِضَاعَةِ الْمَالِ" (صحيح مسلم)

ژباړه: د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: الله تاسې ته دري شيان خوښ کړي او دري شيان يې درته بد ګڼلي ، پس خوښ کړي يې دي تاسو ته دا چې تاسو د الله بندګي وکړئ او هيڅ شی ورسره شريک نکړئ ، او دا چې تاسو ټول منګولي ولږوئ

د الله په رسۍ، او اختلاف ونکړئ، او بد یې ګڼلي تاسی ته ډیري (بي فائدي) خبري، او ډیر سوالونه (بغیر له ضرورت) او مالونه ضایع کول (اسراف کول).

همدارنګه د احد په غزوه کې رب العالمین دی امة ته دا درس ورکوي چې ګوره دښمنان رب العالمین ذلیله کړي و مندې یې وهلې خو چې د صحابه کرامو په خپلو منځونو کې معمولی اختلاف راغی او د امیر د امر څخه یې سرغړونه وکړه هغوی د کوم سرنوشت سره مخامخ شول! محمدرسول الله زخمی شو، صحابه کرام شهیدان شو، ګټلی جنګ په شکست بدل شو او داسې نور چې د دې واقعې تفصیل به ان شاءالله د بې طاعتی په سبب کې بیان کړو.

نو اختلافات سبب د شکست دی، بلکې اختلافات سبب د هلاکت دی مخکني قومونه د رب العالمین همدې اختلافاتو په وجه هلاک کړل او د ځمکې له مخه یې ورک کړي و.

حدیث کې راځی:

عَنْ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ : سَمِعْتُ رَجُلًا قَرَأَ آيَةً ، وَسَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ خِلَافَهَا فَجِئْتُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ فَعَرَفْتُ فِي وَجْهِهِ الْكَرَاهِيَةَ ، وَقَالَ : " كِلَاكُمَا مُحْسِنٌ وَلَا تَخْتَلِفُوا فَإِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمُ اخْتَلَفُوا فَهَلَكُوا" (صحیح البخاري)

ژباړه: عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمایي: ما د یو سړي څخه واوریدل چې یو ایات یې لوستلو او د نبي صلی الله علیه وسلم څخه مې هم اوریدلي وو، چې هغه د دې خلاف لوسته ما هغه نبي صلی الله علیه وسلم ته راوسته پس هغه مې خبر کړ، نو ما د هغه په مخ کې خفګان وپیژانده او ویې ویل: دواړه یې خایسته لولئ او اختلاف مه کوئ ځکه ستاسي نه مخکې خلکو اختلاف وکړ پس هغوی هلاک شول.

نو معلومه شوه چې اختلاف سبب د هلاکت دی نو سبب د شکست خو خامخا دی!

همدارنګه د اختلاف له وجې د اسلامي امت څخه خیرونه او برکتونه پورته کیږي تاسي وګورئ د قدر شپه چې د زرو میاشتو څخه بهتره ده دا یوه معلومه شپه وه خو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم راووته چې صحابه کرامو ته خبر ورکړي ګوري چې ملګري سره اختلاف کې واقع دي جنجال یې دی سره، بس رب العالمین د محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم څخه هغه معرفت د دې ورځی واخیست امام بخارى دا روایت نقل کړی:

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ ، قَالَ : خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُخْبِرَ النَّاسَ بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ فَتَلَاحَى رَجُلَانِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " خَرَجْتُ لِأُخْبِرَكُمْ فَتَلَاحَى فُلَانٌ وَفُلَانٌ وَإِنَّهَا رُفِعَتْ ، وَعَسَى أَنْ يَكُونَ خَيْرًا لَكُمْ ، فَالْتَمِسُوهَا فِي التَّاسِعَةِ وَالسَّابِعَةِ وَالْخَامِسَةِ" (صحیح البخاري)

ژباړه: د عبادة بن صامت رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم راووته چې خلک په شپې د قدر خبر کړي پس دوه کسانو د مسلمانانو څخه جګړه کوله، نبي صلی الله علیه وسلم وویل: زه راووتم د دې لپاره چې زه خبر درکړم تاسې ته بس فلاني او فلاني سره جګړه کوله او هغه پورته کړای شوه او شاید دا تاسې لپاره خیر وي پس هغه ولټوئ په (اخري عشري) نهمه اومه او پنځمه کې.

تاریخ هم پدې باندي ګواه دی کله چې هم مسلمانان قوي شوي، او په دښمنانو غالبه شوي او قوي امپراتورى

یې ړنګې کړي، او رب العالمین هغوی د هدایت رهبران او ډیوې ګرځولي د هغې وجه او علت د هغوی اتحاد او اتفاق و هغوی خپل صف کې اختلافاتو ته ځای نه ورکاوه ، نو اوس هم که مسلمانان د اختلافاتو پر ځای د رب العالمین پر دین سره راټول شي نو هماغه رُعب او دبدبه ، هماغه شان او شکوت به یې رب بیا راوپس کړي.

اتفاق او اتحاد د دښمن مخ ته یو مضبوط خط دی ، ځکه د رب مدد د دوی سره وي او کله چې د رب العالمین مددونه موجود وی بیا د دښمن مخې ته مضبوط خط پروت دی ، او د دوی ساتنه او حفاظت به الله کوي لکه چې حدیث کې نقل شوی:

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَدُ اللَّهِ مَعَ الجماعةِ (رواه الترمذي)

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی هغه وایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: د الله لاس(یعنی ساتنه او حفاظت) د متفق جماعت سره وي .

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم په قسما قسم طریقو باندې امت ویرولی ترڅو د اختلافاتو څخه ځان وساتي، د داسې خلکو مرګ یې د جاهلیت مرګ بیان کړی چې اختلافات راپورته کوي او د مسلمانانو د صف څخه جدا کیږي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، أَنَّهُ قَالَ : " مَنْ خَرَجَ مِنَ الطَّاعَةِ وَفَارَقَ الْجَمَاعَةَ فَمَاتَ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً (صحيح مسلم)

ژباړه: د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه یې د نبي صلی الله علیه وسلم څخه نقل کوي چې هغه وفرمایل: څوک چې د امیر د طاعت څخه ووځي او د مؤمنانو د جماعت څخه جدا شو پس مړ شو ، مړ شو په مرګ د جاهلیت والاو.

اختلاف او تفرقه اچول هغه قبیح عمل دی چې کوم خلک د مسلمانانو صف ټوټه کوي ولو که هغه ځانته د خلیفه او امیر نوم هم ورکړي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې ویې وژنئ چې امت تري خلاص شي:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " إِذَا بُويِعَ لِخَلِيفَتَيْنِ فَاقْتُلُوا الْآخَرَ مِنْهُمَا "(صحيح مسلم)

ژباړه: د ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي چې نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې د دوه خلیفه ګانو سره بیعت وکړای شي نو اخر ورڅخه ووژنئ.

دې حدیث کې که سړی سوچ وکړي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه شخص د قتل امر کړی چې حتی ځانته د خلیفه مرتبه او نوم ورکوي خو چې د بل مشروع او مسلمان خلیفه مقابل کې بل جماعت رامنځته کوي، د مسلمانانو جماعت او صف په دوه برخو ویشي ، اسلام بیا د داسې شخص پروا نه کوي.

عزتمندو مسلمانانو او مجاهدینو! د اختلاف څخه د خلاصون لار الله تعالی ښودلی ده چې دا د هر مؤمن لپاره د اتحاد او اتفاق لاره ده او بغیر له دې یې اتحاد او اتفاق ممکن نه دی او هغه دا ده چې ټول مسلمانان قران او سنت ته غاړه کیږدي او وربانديې منګولې ولګوي.

الله تعالی فرمایي : **يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوٓا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ فَإِن تَنَٰزَعْتُمْ فِى شَىْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْءَاخِرِ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا**[سُورَةُ النِّسَاء : 59]

ژباړه: اې مؤمنانو! د الله، رسول او هغو کسانو اطاعت وکړئ چې ستاسې څخه د امر خاوندان وي، بیا

که ستاسې تر منځ په کومه چاره کښې شخړه پیښه شي؛ نو هغه د الله او رسول لوري ته وراندې کړئ. که تاسې په رښتیا سره پر الله او د اخرت په ورځ ایمان لرئ، همدا د کار یوه سمه طریقه ده او د عاقبت په اعتبار هم غوره ده.

رسول الله صلی الله علیه وسلم هم فرمایي : **أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللَّهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ، وَإِنْ عَبْدًا حَبَشِيًّا فَإِنَّهُ مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ بَعْدِي فَسَيَرَى اخْتِلَافًا كَثِيرًا، فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الْمَهْدِيِّينَ الرَّاشِدِينَ تَمَسَّكُوا بِهَا وَعَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ، وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْأُمُورِ فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ"** (سنن أبي داودرقم الحديث 3993)

ژباړه: زه تاسې ته وصیت کوم د الله څخه په ویرې سره او په خبره منلو او طاعت د امراؤ سره ، او که مقرر شي پر تاسې یو حبشي (امیر) نو یقینا که زما نه وروسته ستاسې څخه څوک ژوندي پاتې و نو ډیر اختلاف به ووینې ، پس پر تاسو لازم دي زما طریقې او طریقې د خلفاء راشدینو چې هدایت کړای شوي دي، منګولي ولږوئ پر هغې او کلک ولږوئ پر هغې د ژامې غاښونه او ځان وساتئ د نوو پیدا کړای شوو کارونو څخه ځکه نوی کارپه (دین) کې بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده.

نو خلاصه د دې سبب دا شوه چې اختلافات سبب دی د شکست او هلاکت ، اسلامي امت او خاص طور مجاهدین به د اختلافاتو څخه په کلکه ځان ساتي لله الحمد زمونږ او ستاسې لپاره قضا شته، لجنه شته د دعوت اداره شته هره مسئله د قران او سنت په رڼا کې حل کیږي اختلافاتو ته ضرورت نشته او سره د دې چې مرجع هم شته او بیا هم مجاهد اختلافات راولاړوي دا بیا د مسلمانانو د صف توټه کیدو په معنی ده داسې مجاهد سره به امیر او قضا هیڅ رحم نه کوي ځکه دا صف د مسلمانانو په وینو او قربانیو ولاړ دی داسې خلکو سره باید کلکه محاسبه وشي چې صف تخریبوي ، نو داسې خلکو ته بایدعبرتناکه سزا ورکول شي.

ځکه حدیث کې نقل دي:

عن عَرْفَجَةَ ، قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، يَقُولُ : " إِنَّهُ سَتَكُونُ هَنَاتٌ وَهَنَاتٌ ، فَمَنْ أَرَادَ أَنْ يُفَرِّقَ أَمْرَ هَذِهِ الْأُمَّةِ وَهِيَ جَمِيعٌ ، فَاضْرِبُوهُ بِالسَّيْفِ كَائِنًا مَنْ كَانَ" (صحیح مسلم

ژباړه: د عرفجه نه روایت دی هغه وایي: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې ویل یې: یقیناً زر ده چې فتنې او فسادونه به پیدا شي ، پس چا چې اراده وکړه چې د دې امت کار (وحدت) توټه کړي پداسې حال کې چې دا امت متفق وي پس په توره یې ووهئ هر څوک چې وي.

۳ـ دریم سبب : عصیان الأمراء:

د امراؤ نافرماني کول، یا د امراؤ بې طاعتې کول، دا هم د شکست یو اساسي سبب دی، کله چې مسلمانانو کې د خپلو امراؤ طاعت نه وي!

د امراؤ خبره منل او اوریدل نه وو!

کوم قوم چې د امیر خبرې ته ورنه کړ،هغه خلک به بیا ښه ورځ ونه ګوري! او د شکست سره به مخامخ کیږي.

د مسلمانانو په ژوند کې د امراؤ طاعت یو اساسي او بنیادي ستن ده دا ستن چې کله راولویده بیا د مسلمانانو نظام راړنګیږي، بیا د مسلمانانو د نظام ابادي مقاومت نشي کولای هغه به راپریوځي ،

د امراؤ طاعت په نظام کې د اتفاق او اتحاد سبب دی، دا چې له منځه ووته بیا نو نظام خپله پاشل کیږي او نظام کې خپله بیا اختلافات او جګړې پیدا کیږي.

طاعت په نظام کې د اسلامي امت قوت او هيبت دی دا چې کله نه و، بيا د الله د دښمنانو سترګې نه سوځي بيا په ډېر جرئت په مسلمانانو ورځي ، ځکه پوهيږي چې دوی د خپل مشر خبره نه مني!

طاعت هغه زنځير دی چې کړۍ يې مضبوطې او يو د بل سره پيوستې وي کله چې دا زنځير وشکېده ټوټه ټوټه شو بيا دا زنځير د يوې شی هم نه دی .

همدارنګه چې په کومو مسلمانانو کې طاعت نه و دوی کې بيا قوت نشته او نه فائده لاسته راوړلی شي !

همدا وجه ده چې قران او سنت دې باب کې مؤمنانو ته کلکې سپارښتنې کړي او د امراؤ طاعت رب العالمين د خپل ځان او پيغمبر د طاعت سره يو ځای ذکر کړی ، الله تعالى فرمايي: **يَأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوٓا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ** [سُورَةُ النِّسَاء : 59]

ژباړه: اې مؤمنانو! د الله، رسول او هغو کسانو اطاعت وکړئ چې ستاسې څخه د امر خاوندان وي.

دا ايات هر امير ته شامل دی چې د مسلمانانو امارت او مسئوليت ورته سپارل شوی وي، بعضی مرجفين او خود غرضه خلک د عامو مسلمانانو په ذهنونو کې دا تبليغات هم کوي چې د دې نه مراد يواځې د خليفة المسلمين طاعت دی.

مونږ وايو چې د يو وړوکي امير طاعت چې انسان ونکړي هغه حقيقت کې د خليفة المسلمين طاعت ونکړ! ځکه ددې امير په طاعت باندی تاته خليفة المسلمين امر کړی، چې ويې نکړې اصلاً د خليفة المسلمين طاعت نشي کولای.

دويم دا چې دلته اولی الامر جمعه ده دا هر امير ته شامل دی!

نو مقصد دا دی چې د خپلو امراؤ طاعت او تابعداري کول، د هغوی وړه او لويه خبر منل دا به مؤمنان د فلاح او کاميابۍ طرفته بوځي او د امراؤ خلاف کول، د هغوی خبرې ته اهميت نه ورکول د هغوی خبره غورځول دا به د مؤمنانو او مجاهدينو په شکست تماميږي .

ځکه د امراؤ بې طاعتي کول دا خو حقيقت کې د الله رب العالمين او د هغه د رسول خلاف کول دي ، دا د هغه ذات خلاف کول دي چې ما او تا يې پيدا کړي يو ما او تا ته يې د ژوند يو مهلت راکړی ، د امتحان پر لاره يې روان کړي يو دا د هغه ذات بې طاعتي ده:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : " مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ ، وَمَنْ يَعْصِنِي فَقَدْ عَصَى اللَّهَ ، وَمَنْ يُطِعِ الْأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِي ، وَمَنْ يَعْصِ الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي" (رواه مسلم)

ژباړه: د ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه يې له نبي صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې هغه وفرمايل:چاچې زما اطاعت وکړ نو هغه د الله تعالى اطاعت وکړ او چا چې زما نافرماني وکړه نو هغه دالله تعالى نافرماني وکړه او چا چې د مسلمانانو د امير اطاعت وکړ نو هغه په حقيقت کې زما اطاعت وکړ او چا چې د مسلمانانو د امير نافرماني وکړه نو هغه حقيقت کې زما نافرماني وکړه .

له دې حديث څخه معلومه شوه چې د خپلو امراؤ بې طاعتي کول دا اصل کې د الله او د رسول الله بې طاعتي کول دي ، کله چې يو انسان دومره سرکشه او زورور شي ،چې د خپل رب نافرماني کوي بيا يې رب العالمين ذليله کوي، بيا يې رب د شکست سره مخامخ کوي چې صبر دې انسان ته د خپل ځان پته ولږيږي چې ديکې څومره زور دی، دا څومره قوت لري چې د خپل رب نافرماني کوي.

نو مونږ او تاسې خو ډېر کمزوري يو ، والله که رب العالمين مو د خپلو امراؤ په نافرمانۍ خفه کړ رب به مونږ خفه کړي، او که رب العالين مو د خپلو امراؤ په طاعت خوشحاله کړ رب به مونږ په خپله زندگۍ کې خوشحال کړي.

د امراؤ طاعت هغه مسئله ده چې محمدرسول الله صلی الله عليه وسلم به د بيعت په اولني الفاظو کې د همدې خبرې عهد د خپلو ملگرو څخه اخيستلو او هر مؤمن، مجاهد چې د خليفة المسلمين په بيعت کې ځان داخلوي، او د جاهليت د مرگ څخه ځان خلاصوي اول په همدې خبره تعهد کوي چې **(نُبَايِعُ أَمِيرَ الْمُؤْمِنِين وخليفةَ المُسلمين ... عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ، فِي الْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ، وَالْعُسْرِ وَالْيُسْرِ وَعَلى أَثَرَةٍ عَلَيْنَا، وَأَنْ لاَ نُنَازِعَ الأَمْرَ أَهْلَهُ، إِلَّا أَنْ نَرَى كُفْرًا بَوَاحًا، عِنْدَنا مِنَ اللَّهِ فِيهِ بُرْهَانٌ وَأَنْ نَقُولَ بِالْحَقِّ حَيْثُمَا كُنَّا، لاَ نَخَافُ فِي اللَّهِ لَوْمَةَ لاَئِمٍ).**

مونږ د مومنانو امير او مسلمانانو خليفه... سره په خبره اوريدلو او منلو بيعت کوو، په وخت دخوشحالۍ او خفگان کې، په سختۍ او آسانۍ کې، او په وخت د غوره والي په مونږ باندې (يعنې د نورو کسانو په مونږ غوره کولو په صورت کې) او مونږ به د واک خاوندانو سره د کار (يعنې مشرۍ) په اړه لانجه نه کوو، مگر که مونږ ښکاره کفر وليد چې زمونږ سره په هغه باندې واضحه دليل وي، او مونږ به حق وايو چيرته چې يو، د الله لپاره به د ملامت گر د ملامتيا څخه نه ويريږو.

اخر کې بيا دا هم وواېې چې (والله على ما نَقُولُ شَهِيْد) رب العالمين هم پر ځان گواه کړی، چې دا کومو خبرو باندې مې عهد وکړ يا رب العالمينه ته په دې گواه يې!

نو ای هغه مجاهده وروره! چې ته د خپل امير نافرماني کوې، يا د خپل امير څخه پټ کارونه کوې، يا هغه کارونه چې امير پرې خفه کيږي او ته يې کوې هغه وخت ځانته خپل رب راياد کړه ، هغه وخت خپلې وعدې راپه ياد کړه چې تا پرې خپل رب گواه کړی، هغه وخت ځانته دا خطاب وکړه چې زه د خپل تعهد او لوظ خلاف کوم زه خپلې وعدې ماتوم هسې نه چيرې منافق شوی نه يم والعياذ بالله!

نو مجاهدينو ورونو بې طاعتې کول، او د امراؤ نافرماني کول دا د شکست يو اساسي سبب دی ، هر مؤمن او مجاهد بايد په کلکه د دې څخه ځان وساتي، د احد غزوة وگورئ گټلې جنگ و کفارو منډې وهلې، د ښځو پانزيبونه يې ښکاريدل چې پاينڅې يې جيگې کړې وې او منډې يې وهلې، د زرگونو کسانو غنائم په ميدان پاتې و چې حتی صحابه کرامو يې په راټولولو شروع وکړه.

خو چې کله صحابه کرامو څخه د خپل امير د خبرې مخالفت کيږي بيا مؤمنان د داسې مصيبت سره مخامخ کيږي، چې دا هر څه بالعکس او سرچپه کيږي، هر سړی بيا په خپل غم کې ډوبيږي ، صحابه کرام شهيدان کيږي، محمدرسول الله صلی الله عليه وسلم زخمي کيږي او محدود کسان ورسره پاتې کيږي.

رسول الله صلی الله عليه پنځوس کسه غشي ويشتونکي ماهرين په(جبل الرماة) مقرر کړل او قيادت يې عبدالله بن جبير رضی الله عنه ته وروسپاره ، او حکم يې ورته وکړ چې تاسو به په هيڅ حالت کښې دا کنډو نه پريږدئی، تر دې چې رسول الله صلی الله عليه ورته وويل:**(إِنْ رَأَيْتُمُونَا تَخْطَفُنَا الطَّيْرُ فَلَا تَبْرَحُوا مَكَانَكُمْ هَذَا حَتَّى أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ ، وَإِنْ رَأَيْتُمُونَا هَزَمْنَا الْقَوْمَ**

وَأَوْطَأْنَاهُمْ فَلَا تَبْرَحُوا حَتَّى أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ ...(صحيح البخاري)
کچيرته تاسي مونږه وګورئ چې زمونږ غوښې مرغان تښتوي ،تاسي به خپل ځاى نه پريږدئ ترڅو ما درته څوک ليږلي نه وي ، او کچيرته تاسو مونږ وګورئ چې (دشمن) قوم ته مو شکست ورکړ، او پيمال مو کړل ، تاسو به بيا هم خپل ځاى نه پريږدئ ترڅو زه درته څوک وليږم!

کله چې صحابه کرامو وليدل چې کفار منډې وهي او شکست يې وخوړ، نو بعضو وويل نور څه ته انتظار کوئ؟ **عبدالله بن جبير ؓ ورته وويل : أَنَسِيتُمْ مـا قَالَ لَكُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى الله عليه وسَلَّمَ؟)**
آيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم خبره مو هيره کړه؟
خو بعضى صحابه کرامو د امير د خبرې لحاظ ونکړ او راکوز شول او (محدود) صحابه کرام پاتي شول کله چې خالدبن وليد رضى الله عنه دا نقطه د ضعف وليده (هغه وخت هغه ايمان نه و راوړى) چې د غشو ويشتونکو د ښکته کيدو له امله د مسلمانانو شا خالي شوه ،نو له دې فرصت څخه يې په ډيره چالاکۍ استفاده وکړه ، خپل اسونه يې راتاو کړل او په مسلمانانو يې شروع وکړه ، له داسې طرف نه چې د دوى ګمان هم نه کيده پدې وخت کې دمشرکينو صفونه بيرته جوړشول او په صحابه کرامو يې د مخکې او وروستو نه جنګ شروع کړ او د لوى مصيبت سره مخامخ شول چې اويا کسه ملګري ترې شهيدان شول چې دې حالت ته الله عزوجل خپل کتاب کې اشاره کوي:

وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِ حَتَّىٰ إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَعَصَيْتُم مِّن بَعْدِ مَا أَرَاكُم مَّا تُحِبُّونَ مِنكُم مَّن يُرِيدُ الدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ الْآخِرَةَ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ [سُورَةُ آل عِمرَان : 152]

ژباړه: الله چې (د مرستې او نصرت) کومه وعده ستاسې سره کړې وه، هغه خو يې پوره کړه. لومړى خو د هغه په حکم همدا تاسې هغوى وژل؛ خو کله چې تاسې همت له لاسه ورکړ او په خپل کار کې مو سره اختلاف وکړ او له هغه وروسته چې الله تاسې ته هغه شى در وښوده چې تاسې يې په مينه کښې راګيرروئ(يعنې د غنيمت مالونه) تاسې د خپل مشر له امر څخه غاړه وغړوله، ددې لپاره چې ستاسې څخه ځينې خلك د دنيا غوښتونکي ول او ځينو د اخرت هيله لرله؛ نو الله تاسې د کافرانو په مقابله کې پر شا وتمبولئ، چې پر تاسې ازمېښت وکړي او حقه دا ده چې الله بيا هم تاسې ته بخښنه وکړه او الله پر مؤمنانو ډير لوى فضل والا دى.

نو دا وقعه مونږ ته همدا درس راکوي چې اى مجاهدينو که د امير هدايات مو غوږ کې ونه نيول ،د هغه خلاف مو وکړ داسې ګټلي جنګونه به بايلئ، داسې قيمتي خلک به له لاسه ورکوئ!
داسې مصائبو سره به مخامخ کيږئ چې جبيره به يې بيا نه وي!
اوسني حالاتو کې هم کوم مجاهد چې کوم مشکلاتو سره مخامخ کيږي، اکثر د هغوى علت او سبب همدا بې طاعتي وي، هغه اصول او ضوابط چې امراؤ ټاکلي وي، د هغې لحاظ يې نه وي کړى ،لکه بې ځايه روابط، تعلقات او ملاقاتونه، د نظم د اصولو څخه سرغړونه دا يې سبب شي چې د دشمن لاس کې پريوځي يا داسې مشکل سره مخامخ شي چې بيا افسوس کوي خو وخت ترې تير وي!
نو همدا وجه ده چې محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم

دي باب کې اسلامي امت ته کلک اوامر کړي تر دې چې فرمايي:

" اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا ، وَإِنِ اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ كَأَنَّ رَأْسَهُ زَبِيبَةٌ" (صحيح البخاري)

ژباړه: واورئ او طاعت وکړئ اګر که پر تاسې يو حبشي غلام امير مقرر شي ګويا که سر يې د مميز د دانې په اندازه هم وي.

همدارنګه حجة الوداع کې چې محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم د امت نه مخه ښه اخلي او ورته وايي چې (لَعَلِّي :" لَا أَرَاكُمْ بَعْدَ عَامِي هَذَا ") شايد زه بيا تاسې ونه ګورم د دي کال نه وروسته!

په همدى موقعه محمدرسول الله صلی الله عليه وسلم اسلامي امت ته خطبة کوي، په همدې خطبة کې د امراؤ طاعت ته خصوصي ترغيب ورکوي حديث کې راځي:

عَنْ يَحْيَى بْنِ حُصَيْنٍ ، قَالَ : سَمِعْتُ جَدَّتِي تُحَدِّثُ : أَنَّهَا سَمِعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَهُوَ ، يَقُولُ : " وَلَوِ اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ يَقُودُكُمْ بِكِتَابِ اللَّهِ ، فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا" (صحيح مسلم)

ژباړه: د يحيى بن حصين نه روايت دى هغه وايي: ما د خپلې نيا څخه اوريدلي چې بيان به يې کاوه، چې هغې د نبي صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې خطبه يې کوله په حجة الوداع کې او هغه ويل: اګر که پر تاسې غلام امير مقرر شي چې تاسې د الله په کتاب چلوي پس د هغې خبره واورئ او طاعت يې وکړئ.

نو په همدې اساس مونږ او تاسې د خپلو امراؤ په طاعت باندې قران او سنت مکلف کړي يو او همدې کې مو کاميابي ده، بلکې طاعت زمونږ فريضه ده چې د خپلو امراؤ طاعت به کوو، تاسې د احاديثو کتابونه وکورئ د طاعت باره کې يې بابونه لګولي چې د امراؤ طاعت واجب دى او خلاف ورنه کول معصيت او ګناه ده :

امام نووي په صحيح مسلم کې باب لګولى **(بَابُ وُجُوبِ طَاعَةِ الْأُمَرَاءِ فِي غَيْرِ مَعْصِيَةٍ)**

ژباړه: باب دى په وجوب د طاعت د امراؤ کې بغير د ګناه کارونو کې .

نو دا په مسلمانانو واجب ده چې د خپلو امراؤ طاعت به کوي او د هغوى نافرماني به نه کوي بلکې امام نووي رحمه الله وايي چې پدى د امت اجماع ده.

شرح د مسلم کې امام نووي رحمه الله فرمايي: **(أَجْمَعَ الْعُلَمَاءُ عَلَى وُجُوبِهَا فِي غَيْرِ مَعْصِيَةٍ ، وَعَلَى تَحْرِيمِهَا فِي ا لْمَعْصِيَةِ . نَقَلَ الْإِجْمَاعَ عَلَى هَذَا الْقَاضِي عِيَاضٌ** ...(شرح مسلم: ج١٢ / ٢٢٢ ص)

ژباړه: د علماوو اتفاق دى په وجوب د هغې بغير د ګناه کارونو کې او (اتفاق دى) په حراموالي (د طاعت) د هغه په ګناه کارونو کې ، پدې باندې قاضي عياض هم اجماع نقل کړې ده.

عزتمندو که مونږ او تاسې خپله معاشرة کې فکر وکړو کله چې يو شخص سنت عمل پريږدي هغه ته په کومه سترګه کتل کيږي؟! پاتې خو لا دا چې يو شخص يو واجب عمل پريږدي، نو هغه خلک چې د امراؤ خلاف کوي طاعت يې نه کوي دوى اصلا د رب العالمين د يوى فريضي او وجيبې تارکين دي، دوى د هغه وجيبې تارکين دي چې اسلامي نظام لپاره د بنياد حيثيت لري، هغه وجيبه چې بايد مؤمن ورڅخه په سرو اورونو کې شاته نشي، په غريبۍ او فقر کې ورڅخه شاته نشي، هغه فريضه چې په غم او خفګان کې به ورڅخه مؤمن نه شاته کيږي.

رسول الله صلى الله

عليه وسلم فرمايي :
" عَلَى الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ فِيمَا أَحَبَّ وَكَرِهَ ، إِلَّا أَنْ يُؤْمَرَ بِمَعْصِيَةٍ ، فَإِنْ أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلَا سَمْعَ وَلَا طَاعَةَ"(متفق عليه)

ژباړه: په مسلمان سړي (د خپلو امراؤ خبره) اوريدل او طاعت کول لازم دي په هغه څه کې چې دا يې خوښ ګڼي او يا يې بدګڼي ترڅو چې د ګناه امر ورته نه وي شوی، که چيرې د ګناه امر ورته وکړای شو نو بيا نه اوريدل شته او نه طاعت کول .

محمدرسول الله صلى الله عليه وسلم به په بيعت کې د همدی احوالو خصوصي تذکره کوله:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " عَلَيْكَ السَّمْعَ وَالطَّاعَةَ فِي عُسْرِكَ وَيُسْرِكَ ، وَمَنْشَطِكَ وَمَكْرَهِكَ وَأَثَرَةٍ عَلَيْكَ" (رواه مسلم)

ژباړه: د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: په تا لازم دي خبره اوريدل او منل (د اميرانو) په سختی د ستا او اسانی د ستا کې ، او په خوشحالی د ستا او په خفګان د ستا کې او په تا باندې په غوره والي کې (طاعت د اميرانو).

عبادة بن صامت رضي الله عنه هم فرمايي:
" بَايَعْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي الْعُسْرِ وَالْيُسْرِ ، وَالْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ (مسند احمد)

ژباړه: مونږ بيعت وکړ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په خبره اوريدلو او منلو ، په وخت د سختی او آسانی کې، او په خوشحالی او خفګان کې ...

د صحابه کرامو بيا د طاعت نا اشنا نمونې زمونږ او ستاسې مخته پرتې دي:

اول: واقعه د مقداد رضي الله عنه :

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ ، قَالَ : قَالَ الْمِقْدَادُ : " يَوْمَ بَدْرٍ يَا رَسُولَ اللَّهِ ، إِنَّا لَا نَقُولُ لَكَ كَمَا قَالَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ لِمُوسَى ، فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَهُنَا قَاعِدُونَ سورة المائدة آية 24 ، وَلَكِنْ امْضِ وَنَحْنُ مَعَكَ ، فَكَأَنَّهُ سُرِّيَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .(صحيح البخاري)

ژباړه: د عبدالله رضي الله عنه څخه نقل دي هغه وايي: مقداد رضي الله د بدر په ورځ وويل ای د الله رسوله مونږ تاته نه وايو لکه څنګه چې بني اسرائيلو موسی عليه السلام ته ويلي و چې "ته او ستا رب لاړ شئ پس وجنګيږئ مونږ به دلته ناست يو " ليکن ته لاړ شه مونږ درسره يو ، ګويا کې دې خبری د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه (غم او خفګان) لرې کړ .

دويم: واقعه د حذيفه رضي الله عنه :

د حذيفه رضي الله عنه قصه چې : رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته په غزوة احزاب کې وويل: ته لاړ شه او په ښمنانو کې دننه شه وګوره چې څه اراده لري او دوی څه وايي

دا کار دومره اسانه نه و ، حذيفه رضي الله عنه وايي چې زه لاړم او د هغوي په عسکرو کې وردننه شوم ، ګورم چې هغو خپل ځانونه په اور باندې ګرمول ، او سخته هوا هم لګيده، زه هم ورته ورنيږدې شوم او ورسره کيناستلم پدې وخت کښې أبو سفيان پاڅيده او اعلان يې وکړ چې د جواسيسو خيال کوئ په تاسې کښې دی هر يو کس خپل ناست ملګری وګوري ، ما هم عمرو بن العاص چې زما په ښي طرف باندې ناست وو ومې کتل، ورته مې وويل ته څوک يې؟ هغه وويل : عمرو بن العاص، بيا مې معاوية بن أبو سفيان په طرف وکتل چې زما چپ طرف ته ناست وو ورته مې وويل ته څوک يې؟ هغه وويل معاوية بن أبو سفيان ،بيا أبو

سفیان وویل: والله تاسو په ښه ځاۍ کښې نه یاست ، ټول أسونه او أوښان هلاک شول او بل طرف ته دی بادونو ته وګوره څه یې شروع کړي، والله؛ نه زمونږ قرار ګاه پاتې کیږي او نه دیګونه،ځۍ له دی ځایه لاړشۍ زه خو روان یم ، او بیا أبو سفیان پاڅیده او په خپل اوښ کیناست، حذیفه رضي الله عنه وویل : کچیرته ماسره درسول الله صلی الله علیه وسلم عهد پدې خبره نه وای چې ماته یې ویلي وو (ته به هیڅ یو کار نه کوې ترڅو ماته واپس شوی نه یې) مابه أبو سفیان قتل کړی و.

نو عزتمندو د حذیفة بن الیمان رضي الله عنه اطاعت ته وګورۍ چې څومره مشکل وخت کې د خپل امیر او قائد امر ته لبیک وایې! ځکه احزاب غزوة کې مؤمنان د سختو مشکلاتو سره مخامخ و .

۱ـ سخته لوږه وه!

۲ـ سخته یخني وه! ځکه دا غزوة په ژمي کې وه

داسې ویره وه په مسلمانانو چې زړونه یې مری ته رارسیدلیوو او سترګې یې کږې شوې وې ،. الله عزوجل یې په اړه فرمایي: **إِذْ جَآءُوكُم مِّن فَوْقِكُمْ وَمِنْ أَسْفَلَ مِنكُمْ وَإِذْ زَاغَتِ الْأَبْصَرُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوبُ الْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِاللَّهِ الظُّنُونَا** [سُورَةُ الاَحزَاب : 10]

ژباړه: کله چې هغوی له پاسه او له لاندې پر تاسې یرغل وکړ. کله چې سترګې له ویرې ټیغې وختلې، زړونه خولې ته راغلل او تاسي د الله په باب راز راز ګومانونه وکړل.

۴: په دي غزوه کې سخت بادونه لګیدل چې نه یې خیمې پریښودې او نه دیګونه :

خو دې یو مشکل ته حذیفه رضي الله عنه د مشکل په سترګه نه ګوري خو د خپل قائد او امیر خبرې ته لبیک وایې!

داسې طاعت به هر مؤمن کې موجود وي، د امیر د طاعت پر وړاندې لوږه کوم مشکل نه دی، یخني کوم مشکل نه دی، د دښمنانو ویره کوم مشکل نه دی، بادونه بارانونه کوم مشکل نه دی!

ځکه دا زمونږ او ستاسې لپاره د خپلو اسلافو نمونې دي.

نو حاصل دا شو چې د امراؤ طاعت فلاح او کامیابي ده او بي طاعتي او د امراؤ خلاف کول شکست او ناکامي ده نو که کوم انسان کې معمولي شانته عقل هم وي هغه بیا خپل شکست هیڅکله نه غواړي!

ځلورم سبب: المعاصي

ګناهونه کول هم د شکست او هزیمت سبب دی کله چې مسلمانان د خپل رب په معصیت او مخالفت کې واقع شي نو بیا هم د دې انسانانو شکست په برخه وي ، قران کریم کې هم بار بار رب العالمین دې خبرې ته اشاره کړې چې دنیا کې فسادونه ، مشکلات او داسې نور مصائبو سره چې انسان مخ کیږي، د هغې وجه د همدی انسانانو اعمال وي د خپلو بدو اعمالو له وجې د بد عاقبت سره انسان مخامخ شي.

الله تعالی فرمایي:

ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ [سُورَةُ الرُّوم : 41]

ژباړه: په وچه او لمده کې د خلکو (د لاسونو) په عملونو سره فساد ښکاره شویدی؛ نو (الله) په دوی باندې د هغو عملونو (د سزا) خوند څکي چې دوی کړي دي، ښایي چې دوی راوګرځي.

همدارنګه الله تعالی فرمایي:

وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُوا عَن كَثِيرٍ [سُورَةُ الشُّورىٰ : 30]

ژباړه: پر تاسي چې هر مصیبت راغلی دی، ستاسې د خپلو لاسونو له عملونو څخه راغلی دی، او له ډېرو ګناهونو څخه (الله) همداسې تیریږي؛

د احد په غزوه کې هم صحابه کرامو د خپل شکست وجې ته

متوجه شول چې د دي وجه څه وه؟ الله عزوجل ورته وايي: أَوَلَمَّآ أَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةٌ قَدۡ أَصَبۡتُم مِّثۡلَيۡهَا قُلۡتُمۡ أَنَّىٰ هَٰذَا قُلۡ هُوَ مِنۡ عِندِ أَنفُسِكُمۡ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ [سُورَةُ آل عِمـرَان : 165]

ژباړه: او ایا هر وخت چې ورسيده تاسې ته کوم مصیبت ؛ په داسې حال کښې چې (د بدر په جګړه کښې) تاسې د دې دوه برابره مصیبت (د دښمن ډلي ته) رسولی دی ، تاسې وويل چې دا مصيبت (په اُحد کې) له کوم لوري راغی؟

[ای پیغمبره] دوی ته ووایه: "دا مصیبت په خپله ستاسي له خوا منځ ته راوړل شویدی ، الله پر هر څه برلاسی دی.

نو معلومه شوه چې ګناهونه د شکست سبب دی نو په همدې اساس به هر مجاهد د الله عزوجل د معصیت څخه ځان ساتي چې د دي خبري تفصیل د نصرت په باب کې شوی و چې تقوی د نصرت سبب دی او معصیت او ګناه د شکست سبب دی.

٥ـ پنځم سبب: إيثار الدنيا على الآخرة

دنیا په اخرت غوره کول.

کومو انسانانو کې چې د دنیا سره محبت او مینه پیدا شوه ، او د دنیا محبت وربانديې دومره غالب شو چې اخرت يې ورڅخه هیر کړ یا د دنیا له وجې د الله او رسول الله مخالفت کوي او یا يې د ژوند مقصد دنیا وګرځوله نو د دې خلکو هم شکست په برخه دی.

د احد په غزوه کې الله عزوجل همدې خبرې ته هم اشاره کوي چې بعضی خلکو دنیا طرف میلان پیدا شو او د دنیا له وجې يې د نبي صلی الله علیه وسلم د خبرې او امر څخه اعراض وکړ نو ځکه صحابه کرام د دې مشکل سره مخامخ شول.

الله تعالی فرمايي: وَلَقَدۡ صَدَقَكُمُ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥٓ إِذۡ تَحُسُّونَهُم بِإِذۡنِهِۦ حَتَّىٰٓ إِذَا فَشِلۡتُمۡ وَتَنَٰزَعۡتُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِ وَعَصَيۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ مَآ أَرَىٰكُم مَّا تُحِبُّونَۚ مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنۡيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۚ ثُمَّ صَرَفَكُمۡ عَنۡهُمۡ لِيَبۡتَلِيَكُمۡۖ وَلَقَدۡ عَفَا عَنكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ[سُورَةُ آل عِمـرَان : 152]

ژباړه: الله چې (د مرستې او نصرت) کومه وعده ستاسې سره کړې وه، هغه خو يې پوره کړه. لومړی خو د هغه په حکم همدا تاسې هغوی وژل؛ خو کله چې تاسې همت له لاسه ورکړ او په خپل کار کښې مو سره اختلاف وکړ او له هغه وروسته چې الله تاسې ته هغه شی در وښوده چې تاسې يې په مینه کښې راګیر وئ يعني د غنیمت مالونه. تاسې د خپل مشر له امر څخه غاړه وغړوله، ددې لپاره چې ستاسې څخه ځیني خلک د دنیا غوښتونکي ول او ځینو د اخرت هیله لرله؛ نو الله تاسي د کافرانو په مقابله کښې پر شا وتمبولئ، چې پر تاسي ازمېښت وکړي. او حقه دا ده چې الله بیا هم تاسي ته بخښنه وکړه. او الله پر مؤمنانو د پېرزوینې ډېر لوی نظر لري.

٦ـ سبب: الاغترارُ بالكثرة والقوةِ

په ډیروالی او یا ظاهري قوت باندی دوکه کیدل.

زمونږ تاريخ پدې ګواه دی عزتمندو چې کامیابي په ډیروالي د افرادو نده او نه یوائې په مادي قوت باندې کامیابي حاصلیږي، بلکې کامیابي او قوت دا د الله والاو په برخه وي، رب العالمین چې چا سره ملګری شو، او کوم انسانان چې معنویت یې برابر و، دوی بیا شکست نه خوري د الله په توفیق سره.

مخکې پدې خبره شوی وه چې لکونه فوجونه به وي خو چې رب العالمین يې په زړونو کې رعب ورواچولو بیا په میدان کې نشي ټینګید لی .

د بدر غزوة زمونږ او

ستاسې لپاره مثال دی صحابه کرام درې سوه مقدار کسان دي خو په معنویت برابر دي مقابل کې یې په زر مقدار نفر دي او ښه په اسبابو مجهز راوتلي و خو رب العالمین څنګه ذلیله کړل، او رب العالمین څنګه شکست ورکړ د مکې هغه متکبرین، سرکشه، او ظالمان رب العالمین د غریبو صحابه کرامو په لاسونو ذبحه کړل، او کوهیانو ته یې ورګوزار کړل.

همدارنګه بالعکس په کثرت او ډیروالي دوکه کیدو حال هم وګورئ ، حنین کې صحابه کرام لس یا دولس زره کسان وو، کله چې خپل فوج ته ګوري نو ابوبکر رضي الله عنه وایي: **لَنْ نُغْلَبَ الْيَوْمَ مِنْ قِلَّةٍ! فَانْهَزَمُوا فَكَانَ أَوَّلَ مَنِ انْهَزَمَ بَنُو سُلَيْمٍ، ثُمَّ أَهْلُ مَكَّةَ ثُمَّ بَقِيَّةُ النَّاسِ** (البداية والنهاية)

ژباړه: مونږ به نن ورځ له کموالي له امله مغلوب نه کړی شو! نو هغوی شکست وخوړ، نو اول له هغه چا څخه چې شکست سره مخ شول؛ بنو سلیم قبیله وه، بیا د مکې والا، بیا باقي خلک له شکست سره مخ شول.

الله رب العالمین ورته اوښوده چې کثرت او کموالی د کامیابۍ او شکست معیار نه دی بلکې کامیابي د رب العالمین د نصرت له وجې ده هماغه و چې کله یې په کفارو هجوم وروړ داسې حالت سره مخامخ شول چې په میدان بیا پنځه شپږ کسان پاتې وو.

دا حالت الله رب العالمین مونږ او تاسې ته د تربیت په خاطر بیانوي:

لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْئًا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ.

[سُورَةُ التَّوبَة : 25]

ژباړه: الله له دې څخه مخکې په ډېرو ځایونو کښې ستاسې مرسته کړېده.

او اوس د حُنین د غزا په ورځ (به تاسې د هغه ملاتړ لیدلی وي) په دې ورځ تاسې د خپل شمېر په زیاتوالي غره وئ، خو هغه ستاسې هیڅ په کار رانغی او ځمکه له خپل پراخوالي سره سره پر تاسې تنګه شوه او تاسې شا واړوله، وتښتېدئ.

نو که د رب العالمین کتاب ته رجوع وکړو بار بار رب العالمین مشرکانو ته د دې خبرې تهدید ورکوي چې اي کفارو، اي مشرکینو په کثرة او قوت مه دوکه کیږئ، تاریخ ته لږ نظر

وکړئ، رب العالمین هغه قومونه چې د دنیا لوی طاقتونه و، لوی پوځونه به ورسره وو د داسې ذلت او هلاکت سره مخامخ کړي چې د وروستنیو خلکو لپاره یې قیصی د عبرت په توګه لوستل کیږي.

الله رب العالمین فرمایي: **أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ كَانُوٓا أَكْثَرَ مِنْهُمْ وَأَشَدَّ قُوَّةً وَءَاثَارًا فِي الْأَرْضِ فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ** [سُورَةُ غَافِر : 82]

ژباړه: نو ایا دوی په ځمکه کښې ګرځېدلي نه دي، چې د هغو خلکو عاقبت یې لیدلی وای، چې له دوی څخه پخوا تیر شوي دي؟ له دوی څخه په شمېر کښې زیات ول، له دوی څخه زیات قوي ول او په ځمکه کښې یې له دوی څخه زیات ځلانده اثار پرې ایښي دي، دفعه نکړ د دوی څخه (عذاب) هغه کاروونو چې دوی کول.

همدارنګه الله تعالی فرمایي: **وَلَقَدْ مَكَّنَّٰهُمْ فِيمَآ إِن مَّكَّنَّٰكُمْ فِيهِ وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَأَبْصَٰرًا وَأَفْـِٔدَةً فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ أَبْصَٰرُهُمْ وَلَآ أَفْـِٔدَتُهُم مِّن شَيْءٍ إِذْ كَانُوا يَجْحَدُونَ بِـَٔايَٰتِ اللَّهِ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ** [سُورَةُ الأحقاف : 26]

ژباړه: په یقیني توګه، هغوی ته موږ د قوت او قدرت هغه څه ورکړي ول چې تاسې ته مو نه دي درکړي. هغو ته موږ غوږونه، سترګي او زړونه هر څه ورکړي ول. خو نه غوږونه د هغو په کار راغلل، نه سترګي او نه زړونه؛ ځکه چې هغوی د الله له ایتونو څخه انکار کاوه؛ او هغوی په همغه شي کښې راګیر شول چې په هغه پوري یې توکې او مسخرې کولې.

همدارنګه به دوی ویل: **أَمْ يَقُولُونَ نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنتَصِرٌ [44] سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ** [سُورَةُ القَمَر : 45]

ژباړه: ایا دوی دا وایي: ”موږ محکمه ډله یوو، خپل ځانونه به وژغورو.“ ډېر ژر به دغې ډلې ته ماته ورکړل شي او دوی ټول به شا اړوونکي تښتېدونکي ولیدل شي.

نو دا یاد وساتئ عزتمندو چې په ژوند کې به په مادیاتو او عسکریت نه دوکه کیږئ د دی شیانو څخه به استفاده کوو او استعمالوو یې خو معیار د کامیابی او شکست یې نه ګڼو، الله تعالی فرمایي: **كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّٰبِرِينَ** [سُورَةُ البَقَرَة : 249]

ژباړه: ډېر ځله داسې شویدي چې یو وړوکې ټولګی د الله په امر پر یوې لویې ډلې برلاسه شوېدې، الله د صبر کوونکو ملګری دی.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم زندګي تاسې وکورئ هغه مؤمنان چې د فقر وربانديې ختمه وه ، د دنیا هیڅ مادیات یې نه درلودل خو ایمان ورسره و، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د هغه خلکو څخه غوره و چې د دنیا هر څه ورسره و خو ایمان یې نه درلود .

مشرکان راغلل او محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې ویلي دا ضعیفان، غریب او غلامان له ځان څخه وشړه مونږ به دی بیا ملګرتیا وکړو الله رب العالمین ایاتونه نازلوي: **وَلَا تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَوٰةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُۥ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَيْءٍ وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ الظَّٰلِمِينَ** [سُورَةُ الأنعام : 52]

ژباړه: او کوم خلک چې شپه او ورځ خپل رب ته لاس په دُعا دي او د هغه خوښې غواړي، هغوی له خپله ځانه لیرې مه شړه. د هغوی له حساب څخه د هیڅ شي پېټی پر تا نشته او ستا له حساب څخه د هیڅ شي پېټی پر هغوی نشته، ددې له پاسه هم که ته هغوی لیرې وشړې، نو په ظالمانو کښې به وشمېرل شې.

نو مقصد دا دی چې (الإغترار بالکثرة والقوة) په ډېروالی د افرادو او ظاهری قوت به هيڅکله انسان نه دوکه کيږي، که په دې دوکه شول او د رب العالمين څخه يې نظر واوښته بيا رب العالمين هغه خلک د شکست سره مخامخ کړي.

اوم سبب: الظلم

کوم قوم کې چې ظلم موجود و يا کوم نظام کې چې ظلم موجود وي، دا ياد ساتئ چې دا قوم به بيا د شکست سره مخامخ وي او دا نظام او دولت به بيا هيڅکله بقاء ونکړي.

بلکې داسې عذاب سره رب العالمين بيا دا خلک مخامخ کوي چې ټول دمخه به له مينځه ځي:

الله تعالى فرمايي: **وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ** [سُورَةُ الأنفَال : 25]

ژباړه: او له هغې فتنې څخه ځان وژغورئ چې د هغې ناوړه اغيزه به په ځانګړې توګه يوازې تاسو کې ظالمانو ته نه رسيږي، او وپوهيږئ چې الله سخت سزا ورکونکی دی.

نو د ظلم عاقبت دا دی چې کله بيا د رب عذاب راشي، بيا يوازې ظالمان نه بلکې نور خلک هم ورسره يکې تباه کيږي.

حديث د بخاري کې راځي:

عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " إِنَّ اللَّهَ لَيُمْلِي لِلظَّالِمِ حَتَّى إِذَا أَخَذَهُ لَمْ يُفْلِتْهُ ، قَالَ : ثُمَّ قَرَأَ وَكَذَلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَى وَهِيَ ظَالِمَةٌ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ (سورة هود آية: 102) (صحيح البخاري)

ژباړه: د ابو موسى رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: يقينا الله ظالم ته مهلت ورکوي تر دې چې کله يې بيا ونيسي نو بيا يې نه پرېږدي هغه وايي بيا يې دا(ايات) ولوسته (او ستا رب چې کله کومې ظالمې سيمې نيسي، نو بيا د هغه نيول همداسې وي، په واقعيت کښې د هغه نيونه ډېره سخته او دردناکه وي).

همدارنګه مُعاذ بن جبل رضي الله عنه چې کله نبي صلى الله عليه وسلم يمن ته ليږي ورته خاص توصيه کوي چې: **"واتَّقِ دعوةَ المظلومِ؛ فإنه ليس بينها وبين الله حجابٌ".** (متفق عليه).

ژباړه: ځان د مظلوم له ښيرو وساته يقينا چې د هغې او د الله تر مينځ پرده نه وي.

شيخ الإسلام بن تيمية رحمه الله به فرمايل: إنَّ الله يقيم الدَّولة العادلة، وإن كانت كافرة، ولا يقيم الدَّولة الظَّالمة، وإن كانت مسلمة (السياسة الشرعية) و (مجموع الفتاوى) (28/146).

ژباړه: الله هغه دولت ته بقاء ورکوي چې عدل پکې موجود وي(ظاهر د خلکو حقوق نه پايمال کوي) ولو که کافر هم وي، او هغه دولت ته بقاء نه ورکوي چې ظلم کوي ولو که مسلمان هم وي.

نو د ظلم دولت ته رب العالمين بقاء نه ورکوي په تاريخ کې هغه نظامونه چې ظلم يې کله انتهاء ته رسيدلی رب رانسکور کړي، د فرعون د نظام چېه کيدل چا نه منل ځان ته يې اله ويل : (انا ربکم الأعلى) بنی اسرائيلو نه يې غلامان جوړ کړي وو ، نر ماشوم يې ژوندی نه پريښوده، خو يوه ورځ رب العالمين سره د لښکرو ورته زمينه برابروي چې د بحر منځ ته ورکوز شي او بيا يې راګير کړي.

همداسې ورووستنې زمانو کې یې هم ډیر مثالونه تیر شوي دي، زمونږ او ستاسې زمانه کې چې د بعضو یې مونږ او تاسې مشاهده هم وکړه چې هغه نظامونه چې مسلمانان به یې ترى تم کول، د اسلام سره یې د عداوت او دښمنۍ مثال نه وو رب د ځمکې د مخ څخه ورک کړل او دا تاریخ راروان دب، چې نني عصر کې امریکا او د هغه لاس پوځو هماغه فرعوني ظلمونه د مسلمانانو پر وړاندې شروع کړي خو یوه ورځ به دوى هم د هماغه سرنوشت سره مخ کیږى ځنګه یې چې مشران ورسره مخامخ شوي وو ان شاءالله.

خاتمه:

عزتمندو مجاهدینو ورونو!

پدې عصر کې د کفارو او د دین د دښمنانو سره د هیڅ قسم ټکنالوژۍ کمی نشته او په هر بخش کې یې ځان مجهز کړى او د دین اسلام او مسلمانانو مقابله کې یې استعمالوي ، نو په همدې اساس مؤمنانو او مجاهدینو لپاره پدې لړى کې د الله د نصرت او تمکین د معنوي اسبابو ترڅنګ په مادي او ظاهري اسبابو هم خبره وشوه چې دې باب کې باید مؤمنان غفلت ونکړي او هر باب کې ځان مجهز کړي او تر ځنګ یې د هزیمت او شکست اسباب ذکر شو چې کله دا اسباب مؤمنان له ځان څخه لرې نه کړي او ځان ورڅخه ونه ساتي نو همیش به مسلمانان ذلیله وي او په هر میدان کې به د شکست سره مخامخ وي او دغه ټولې قربانۍ چې نن یې مجاهدین د الله په لار کې ورکوي که هغه زندان او شکنجه ده ، که هغه د دښمنانو له طرفه بمباورنه او شهادتونه او داسې نوري قربانۍ دي نو د دې نتیجه به ضائع وي ، او نه به خپل هدف لاس ته راوړو.

نو متوجه اوسئ د الله د نصرت او تمکین معنوي او ظاهري اسباب لاسته راوړئ او د شکست د اسبابو څخه ځان وساتئ ترڅو الله عزوجل مو په دنیا کې وځلوي او د نړۍ کونج کونج باندې د ستاسې په سبب خپل نظام حاکم کړي.

وصلَّى الله وسلَّم على نبيِّنا محمَّد، وعلى آلِه وصَحْبِه اَجمَعِين .

***

لنډه کیسه :
ریښتینی مجاهد

یوه ورځ راته خپل امیر له کنړه ټیلفون وکړ،له سلام کلامه پس یې وویل : یو کس درلېږم او د نږدې نه درسره خبره کوي، کوم خبره یې چې درته وکړه نو د هغې په پوره کولو کې ورسره مرسته وکړه.

ما ورته وویل: سمه ده ان شآءالله زمونږ ادرس وکړه تیلفون قطعه شو زه هم د پخوا په څېر په خپلو ورځنیو چارو اخته شوم په بله ورځ غرمه وه ورور راته زنګ وواهه ویل حجرې (دېرې) ته یو نابلده نفر راغلی دی او ستا پوښتنه کوي ما ورته وویل چې چاې، ډوډۍ ورته را وباسه لږ کار دی ددې څخه چې فارغ شم درځم ان شآءالله.

د کار نه د فارغېدو وروسته سمدستي مې د کور پر لور حرکت وکړ، موټر سایکل مې کور کې ودراوه حجرې ته لاړم، په حجره کې مې یو څو نورو میلمنو او نابلده راغلي میلمه سره روغبړ وکړ، د نوراني څهري سره سره میلمه د لوړ قد خاوند هم و، سوچه ږیرې یې د مخ ښکلا لا زیاته کړې وه، په کنړي پکول کې د هیبتي څڼو خایست یو په دوه شوی و، ورسره کیناستم، د احوال پوښتنه مې ترې وکړه مال امیر صاحب څنګه و، ویل ټول ښه وو الحمدلله، خپل تعارف مې ورته وکړ او د نوم په اړه مې ترې وپوښتل، د میلمه په غږ کې یو ځانګړی جذلبیت او لوړوالی و په لوړ غږ یې وویل : نوم مې حذیفه دی او زه یوې خبرې لپاره راغلی یم هغه دا چې مرتدینو سره مې مخامخ ډیر جنګونه کړي دي، خو امریکایانو سره مې مخامخ جنګ ندی کړی نو دغه مې یو ارمان دی، ځکه د کنړ څخه صلیبي یرغلګر د موحدو مجاهدینو د ګذارونو څخه په تنګ راغلي وو او د کنړ څخه په تېښته شوي وو، دا چې حجره کې نور عوام خلک هم وو زر مې ورته وویل مال چپ شه په کلاره خبرې کوه، الله به خیر کړي، تا سفر کړی ستړی به یې ویده شه لمانځه پورې وخت شته دی بیا به نورې خبرې وروسته کوو ان شآءالله. لمانځه نه وروسته مې ورته وویل چې دلته هر قسم خلک دي په هر چا اعتماد مه کوه خبرو سره احتیاط کوه، په خندا یې راغبرګه کړه: ما ویل چې حجره کې ناست خلک ټول مجاهدین دي

حذیفه مو یو ملګري ته ورولېږه او د هغه د ارمان په اړه مو هم ورته وویل خو د تلو په وخت کې مې ورته وویل چې هفته تېره کړه چې ارمان دې الله پوره کړ، ګوره بېرته به بیا دلته راشې دوه هفتو نه زیات وخت وشو چې د حذیفه درک ونه لګېده هغه ساحې ته وریسې ورغلم مال ولې نه راځې د الله ولي؟

خندل يې ويل د سنګر زندګي بيل ډوّل خوند لري، مال مونږ خو دي له سنګره نه نه ايساروو نور راځه زمونږ طرفته دلته به د شپې کاروونه كوو، دلته هم كاروونه کېږي.

دا چې د هغه ځاى امير د حذيفه د شجاعت او ښو اخلاقو نه متاثره شوى وو ويل خير دى زمونږ ورسره پوره ساعت تېر دى دلته به وي، حذيفه به کله کله زمونږ طرفته راته، او په شريکه به مو د شپې له خوا کاروونه په مرتدينو او دو دوى په بادرانو ځاي ،ځاي لمبې بلولې .

نور به اكثره چانته په غاړه د يو څو مؤحدو مجاهدينو سره ګرځېده.

حذيفه په هغه ځاى کې د خپلو خوږو او مينه ناكه اخلاقو له كبله په مجاهدينو كې څه چې آن په عامو كليوالو کې هم زيات خواخوږي او مينه وال پيدا كړي وو، چې په كومه لاره به تيريده ټولو لويو او ووړو پيژانده او ورته به په هره لاره او كوڅه د پاتې كيدو ستونه كيدل .

دا داسې وخت دى چې په شام او عراق کې مجاهدينو د الله تعالى په دښمن ښه زړونه يخ كړي دي او ګرم جنګونه لا هم روان دي، حذيفه به چې خپلو ملګرو سره په كومه ساحه کې ګرځيده دغه ساحه د طالبانو تر تسلط لاندې ساحه وه، په هغه ساحه کې يو پخوانى مسجد و او په دغه مسجد كې داسې قبر و چې خلكو ورڅخه زيارت جوړ كړى و، او خلكو به ورڅخه د تبرک د حاصلولو عقيده درلوده، پدغه ځاى کې ډير ملايان موجود و، دغه ملايانو به غټ غټ پټكي په سر كړي وو خو په سر کې عقل نه و، ځكه چې هغوى به پدغه شركياتو رد خو نه كاوه، بلكې خپله به يې د دغه زيارت تيرې په ځان پورې مړلي او نور خلک به يې هم ورته دعوت كول، طالبان به ډلې ډلې ګرځېدل او پدغه مسجد کې به يې لمونځونه كول، ترديې چې ټوله ورځ به پدغه مسجد کې ناست ول، ليكن ددې په اړه يې هېڅ فكر نه درلوده.

يوه ورځ چې حذيفه تقبله الله دغه مسجد ته لمړى ځل داخل شوى و، بيرته ورڅخه راووت، چا ورڅخه وپوښتل چې ولې؟

ويل دغه مسجد كې غټ قبر دى دې کې لمونځ نه كيږي

دا چې حذيفه كلک مؤحد او يو غيرتي انسان و، نو په مسجد كې يې اول د شرك په اړه لنډ بيان وكړ ويې ويل : صحيح البخاري كې ۴۱۱۲ نمبر حديث د عائشې رضي الله عنها څخه روايت دى، هغه فرمايي چې نبي صلى الله عليه وسلم به هغه مرض کې چې هغې څخه وفات شو فرمايل:

" لَعَنَ اللَّهُ الْيَهُودَ اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ "

ژباړه : لعنت د الله دى وي، په يهودو چې هغوى د خپلو انبياوو قبرونه مسجدونه ګرځولي وو

د قبرونو داسې تعظيم كول چې هغې باندى بناء او مساجد جوړ شي، دا د الله د لعنت سبب دى، نو چې د انبياوو قبرونو باندې مساجد جوړول، د نبي صلى الله عليه وسلم د بد دعايې او د الله د لعنت سبب ګرځي، نو د نورو خلكو په مساجدو د قبرونو د جوړيدو به څه حال وي .

په موطا د امام مالك رحمه الله کې هم روايت دي، چې نبي صلي الله عليه وسلم وفرمايل:

اللَّهُمَّ لَا تَجْعَلْ قَبْرِي وَثَنًا يُعْبَدُ ، اشْتَدَّ غَضَبُ اللَّهِ عَلَى قَوْمٍ اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ

ژباړه: اى الله زما د قبر څخه بوت مه جوړوه، چې عبادت يې وكړاى شي سخت دې شي، غضب د الله په هغه قوم چې هغوى د انبياوو قبرونه مساجد ګرځولي دي.

ابو عبيدة بن الْجرَّاح رضي الله عنه فرمايي: اخري هغه

خبره چې د الله نبي صَلى اللَّـهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورباندې خبره وکړه هغه دا وه چې ویې فرمایل:
أَخْرِجُوا يَهُودَ الْحِجَازِ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ ، وَاعْلَمُوا أَنَّ شِرَارَ النَّاسِ الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْقُبُورَ مَسَاجِدَ.
ژباړه: د حجاز یهود دعربو د جزیرې څخه وباسئ او په دې وپوهیږئ چې بدترین خلک هغه دي، چې قبرونه مسجدونه ګرځوي!
عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مسعود رضي الله عنه فرمایي، مَا لَه رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه واورېدل چې فرمایل یې:
إِنَّ مِنْ شِرَارِ النَّاسِ مَنْ تُدْرِكُهُ السَّاعَةُ وَهُمْ أَحْيَاءٌ، وَمَنْ يَتَّخِذُ الْقُبُورَ مَسَاجِدَ.
ژباړه: بې شکه د بدترینو خلکو له جملې څخه هغه څوک دي، چې قیامت پرې راشي او دوی ژوندي وي اوهغه چې قبرونه مساجد ګرځوي.
او د بیان نه وروسته یې په قبر شروع وکړه قبر یې را وسپړلو او هډوکي یې په ډیر درناوي په پاکه توګه کې تاو کړل او عمومي مقبره کې یې دفن کړل او په مسجد کې یې قبر ختم کړ، په کلي کې ګنګوسې شروع شول هر ځای به مجلس په دغه خبرو ګرم وو، ملګرو ورته ویل د الله تعالی بنده مونږ ته ولې کار ګوري؟!
دلته اکثره طالبان پیران، صوفیان او بریلویان دي او مشران هم هغوی دي که خبر شول مشکل راته جوړوي، حذیفه تقبله الله ویل دا تاسې څنګه برداشت کولی شئ چې زمونږ رب سره دې خلک شریک جوړوي او مونږ به ژوندي یو او مونږ سره به زور وي او مونږ به د رب لپاره غیرت نکوو، ویل اول دا چې تاسو د توحید دعوه کوئ او ځانته مؤحدین وایي، او بیا مو د ټولې نړۍ کفارو ته ټټر وهلی دی او دومره غیرت نلرئ چې ددې وړوکي ډلې مشرکانو څخه ډارېږئ، ملګري یې پخپله خبره پښیمانه کړل ویل تاسې د رب لپاره غیرت وکړئ زمونږ رب ډیر غیرتي ذات دی، الله تعالی به مدد کوي، ویل لا نخاف فی الله لومة لائم، خلک به وایي پسې به نه ګرځو، دې پسې که وګرځیدو هر څه رانه پاتې دي تردې چې بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه سنت چې خلکو ورته بد ګوري هغه هم نشئ کولی.
د هغه ځای ملا امام او طالبان غصه وو خو د حذیفه د رعب له وجې یې څه نشو ورته ویلی.
حذیفه تقبله الله په ارام نه کېناسته بل یې یوه ونه چې ډیره زړه وه او خلکو یې تعظیم کاوه چې دا د بابا ونه ده، څوک به یې تعظیم او احترام ته راتلل ، چا له ډاره لاس نشو ور وړی، حذیفه تقبله الله د شپې د دوه ملګرو سره ورغی او هغه ونه یې راچپه کړه،او ویل یې :هغه ونه چې صحابه کرامو ترې لاندې د بیعت الرضوان شرف حاصل کړی و، ابن القیم رحمه الله په اغاثة اللهفان ۱/۲۱۰ صفحه کې په سند سره نقل کړي، چې کله عمر رضی الله عنه ته خبر ورسیده چې خلک ورځی او د هغې نه لاندې لمونځونه کوي،او تعظیم یې کوي نو فرمایي: فقطعها، لأن الناس كانوا يذهبون فيصلون تحتها فخاف عليهم الفتنة.
ژباړه: نو پس هغه ونه قطع کړه ځکه چې خلک ورتلل او د هغې لاندی یې لمونځونه کول، نو پس ویریده په دې خلکو باندی د فتنې له کبله (چې واقع په کې نه شي)
چې کوم ځای به حذیفه ته معلوم شو چې د شرک اډه ده بس د شپې به ورغی او له منځه به یوړه.
همدارنګه زاد المعاد۳/۳۴۴ دغه ابن القیم رحمه الله په إغاثة اللهفان کې دا هم ذکر کړي چې خپله شیخ الاسلام رحمه الله ډیرى دغه ډول

اشیاء او مواضع چې خلکو ترې معبودان جوړ کړي ول او د تبرک لپاره یې خاص کړي و هغه په خپل لاس په دمشق کې مات کړي دي، علامه طرطوشی رحمه الله په الحوادث والبدع ۱/۳۸ کې د ذات انواط د ونې حدیث ذکر کوي او بیا فرمایي: فانظروا رحمکم الله أینما وجدتم سدرة أو شجرة یقصدها الناس ویعظمون من شأنها ویرجون البرء والشفاء من قبلها وینوطون بها المسامیر والخرق؛ فهي ذات أنواط؛ فاقطعوها.

ژباړه: خه وګورئ الله دې په تاسې ورحمیږي، چرته چې هم تاسې د بېرې او یا هم بله ونه ومومئ نو چې خلک د هغې څخه د(تبرک) اراده کوي او د هغې د شان تعظیم کوي او د هغې څخه د جوړېدو او شفاء امید ساتي او هغې کې کونډې او چوغې راځوړندوي (د خیر دحاصلیدو لپاره) نو پس دغه ذات انواط دی دا قطعه کړئ.

لنډه دا چې حذیفه په دې باب کې ډېر جدي وو، داسې هیڅ نښه او علامه یې نه پرېښوده چې له الله پرته ترې ډار وشي یا ورته تعظیم وشي ، یا ترې مرسته طلب شي او د هر څه لپاره یې دلایل درلودل او خلکو ته به یې په دلایلو قناعت ورکاوه خو بیا هم د هغه ځای جاهله خلک پدې انتظار وو چې نن به دغه زیارت په حذیفه څه کوي او سبا به یې کوي، چا به ویل چې لاس به یې کرېږي چا به ویل دا به پرې وشي او دا به پرې وشي، د وخت په تېرېدو سره د خلکو څه ناڅه سرونه خلاص شول چې مونږ هسې ترې ډار درلوده دا زیارتونه خو هېڅ هم نشي کولی، پدې کار سره الله رب العالمین بعضو خلکو ته هدایت وکړ او توبې یې وویستلې.

وخت تېرېده د هغه ځای طالبان چې اکثره پیرپرست او د ناوړه عقایدو څښتنان وو د حذیفه خلاف به یې مختلف قسم پلانونه جوړول خو ټول پلانونه به یې الله تعالی شنډول.

تردې چې دغه موضوع یې تر کمیسیون پورې رسیدلې وه، طالبانو به حذیفه تقبله الله سره سم چلند نه کاوه، حذیفه تقبله الله به ویل چې دا څنګه مجاهدین دي، عقاید یې د شرکیاتو او خرافاتو څخه ډک دي، په غاړو کې یې غټ غټ تعویذونه ځوړند وي، اوامر ورته د مرتدینو له نظام پاکستان څخه راځي ، او جهاد یې تر افغانستان پورې محدود دی، مشران یې په پاکستان کې په لوکس لوکس موټرو کې ګرځي، شرم خو نلري، د پاکستان همدې مرتد حکومت یې اکثره هغه مشران چې عقیدې یې څه ناڅه ښې وې امریکایانو ته ورکړل، د مهاجرینو نارینه او زنانه یې په امریکایانو وپلورلې، خو دې مشرانو کې دومره غیرت نشته چې پوښتنه یې وکړي، کیسه یې کوله ویل یوه ورځ پاکستان ته تللی وم هلته د پاکستان مرتد فوځ ونیولم، ما ورته ویل چې زه د امارت والا یم، نو دستي یې خوشې کړم راته یې ویل چې ته زمونږ میلمه یې (امارت والا یې) که زمونږ خلاف وی نو دغه وګوره دغه به دې حال وی (یو مجاهد بندي یې راته راوښوده چې نوکان یې ترې ویستلي وو او بې حده ظلم یې پرې کړی وو) بیا مې یو طالب ته هلته دا کېسه وکړه نو هغې راته بیا هم د پاکستان صفتونه شروع کړل چې بس چا پسې سر مه ګرځوه موږ سره خه دي پاکستان خو زموږ د هجرت کور دی.

حذیفه بیا پاکستان ته بلکل زړه نه ښه کاوه او حذیفه تقبله الله به هر وخت ویل چې الله دې زما په ژوند داسې یو جماعت پیدا کړي چې هېڅ استخباراتي اداري سره اړیکه ونلري، او د صفا قرآن او سنت د منهج درلودونکې وي، د حذیفه تقبله الله زړه ډېر

زیات تنګ شوی وو چې ناڅاپه الله عزوجل د عراق او شام په خاوره د اسلامي خلافت لمر وځلاوه، حذیفه تقبله الله او ورسره د عبدالرحمن تقبله الله په نامه ملګری یې دومره خوشحاله وو چې حد یې نه وو، حذیفه تقبله الله د اسلامي خلافت بیرغ جوړ کړ او ځان سره به یې ګرځاوه، خلکو به ورته ویل چې دا بیرغ مه ګرځوه طالبان درته څه ونه وایي، حذیفه تقبله الله پسې افغان مرتدینو هم ډیر کوشش کاوه خو رب العالمین یې ساتنه کوله.

پدې کې ډیر وخت وواته یوه ورځ حذیفه تقبله الله راته ویل چې ته راشه مشوره کوو، چې ترتیب برابر کړو چې شام ته لاړ شو، مال زما هم زړه کې وو، ویل دلته یو ملګری دی هغه ته مې ویلي وو هغه راته د لارې ترتیب برابرولی شي، ته سبا راشه هغه ملګری به زه راوغواړم ټوله خبره به ورسره وکړو ما هم ورسره ومنله، سبا چې ورغلم، نو یو اورکزی مجاهد وو ، چې مونږ ورته خبره وکړه نو په خندا یې وویل چې تاسې خبر نه یې دلته د خراسان لپاره والي ټاکل شوی دی،

حذیفه تقبله الله مخکې ددې نه چې څه ووایي اول یې خپل تندی ځمکې ته ښکته کړ او د شکر سجده یې وکړه، بیا یې وویل چې والي څوک دی؟

ویل حافظ سعید دی، حذیفه انا لله وانا الیه راجعون وویل، ویل دا څه وایي؟

اورکزي ملګري په تعجب سره ورته وویل چې ولې؟

حذیفه ورته کړه: حافظ سعید خو د لشکر خبیثي مشر دی د ای ایس ای والا دی، همغه یادوی؟

اورکزي مجاهد وخندل: ویل د الله تعالی بنده هغه ندی دا اورکزی حافظ سعید خان دی، د پاکستاني فوځ ستر قاتل د پاکستاني فوځیانو په قصاب مشهور دی .

حذیفه تقبله الله وویل خا الحمدلله هغه زمری والي شوی دی دا خو پیژنم ، هغه خو یو زمری دی زمری.

اورکزي مجاهد وویل: تاسې رابطه کې اوسېږئ زه درته بیا خبر درکوم څنګه ته به مو وررولم او خپله خبره به ورسره شریکه کړئ، اورکزی مجاهد راځخه جدا شو، پدې کې حذیفه تقبله الله دوه ورځې رابطه کې نه و، زما تشویش شو، خو چې رابطه کې راغی مال څنګه رابطه کې نه وې وروره؟

په خندا یې وویل: زه تللی وم او بیعت مې وکړ، مال د الله بنده څنګه پټ تللی وې زه خو ستا په تمه وم، ویل وروره ته اړیکه کې نه وې بس فکر مې وکړ چې دا موقعه ده د مرګ پته نه لګیږي، ویل هغه حدیث چې: من مات ولیس فی عنقه بیعة مات میتة الجاهلیة، کې داخل نشو نو ځکه مې تا ته ونه کتل ما ویل هسې نه دا فرصت مو د لاسه ووځي، او فکر مې وکړ چې زه یو ځل بیعت وکړم لارې ګودرې صحیح کړم تا هم وروړلم نو بیعت مې وکړ، مال ښه دې وکړ.

حذیفه د طالبانو منځته لاړه او په دعوت یې پیل وکړ هر چا ته به یې دعوت ورکاوه چې خلافت سره یو ځای شئ، چا ورته ویلي وو چې دعوت لږ پټ کوه دا طالبان خو درسره د هغه زیارتونو له وجې تیار خلاف دي ،هسې نه کوم تکلیف در ونه رسوي، حذیفه تقبله الله ورته ویل چې په تقدیر زمونږ ایمان دی کیسه کې مه اوسیږه هیڅ هم نشي کولی.

حذیفه د دعوت په وجه الله تعالی حذیفه سره یو څه کسان تیار کړل او د تمکین ساحې ته ورسره ولاړل، هلته یې د اسلامي نظام د د فاع

لپاره د اسلام دښمنانانو په مقابل کې اکثره جنګونو کې برخه واخیسته، ملګرو یې کېسې کولې ویل داسې غیرتي انسان مونږ ندی لیدلی، په تعرضونو کې به د ټولو نه مخکې روان وو، دا چې په خراسان کې خلافت تازه اعلان شوی و، او پاکستان لپاره د خطر زنګ و ،نو ای ایس ای طالب ملیشې د همدې ورځې لپاره روزلې وې، نو طالب ملیشو د ای ایس ای په امر د افغان مرتدینو سره په همغږۍ او د یو بل په مرسته په تمکین یرغل وکړ، چې د خلافت ننګیالیو شازلمو یې په وړاندې خپلې سینې سپر کړې، مرتدین او طالب ملیشې د الله تعالی په مرسته داسې ذلیله په تېښته شوې چې بلکل یې بریک نه لګېده، تر دې چې الله تعالی د اسلامي خلافت مجاهدینو ته ډېرې ساحې فتحه کړې، او مجاهدین ورپسې همداسې ور روان وو تردې چې د بایډن او ای ایس ای اکثره کرایي ملیشو خپلې له سپرو ډکې څنې وخړیلې او مخ په پاکستان شول، ډیر مرداران ورڅخه په میدان پاتې شول.

یوه ورځ حذیفه خپل داسې نږدې ملګري ته چې ډیر ورباندې ګران و، تېلفون وکړ ورته یې ویل چې ته داسې وکړه چې راشه او د خلافت پاک او سپیڅلي صف سره یو ځای شه، هغه ورته ویل چې څه وکړم په مونږ هم د بره نه زور دی، د پاکستان نه همدا زنګونه را روان دي مشران وایي چې ورشئ او خلافت سره جنګ وکړئ، نو مونږ هم مجبور یو چې ستاسو خلاف جنګ ته درشو، دغه کس پدغه وخت کې د طالب ملیشو یو سر ګروپ و، حذیفه تقبله الله ورته ویل چې د خلافت جنګ ته راځې ستا او د اربکي ما ته هېڅ فرق نشته، قسم په الله چې زه تا ګیر کړم په خپل لاس دې ذبحه کوم، دا چې حذیفه رښتیا هم همداسې میړنی وو نو پدغه خبرو هغه طالب دومره وډار شو چې ساحه یې پریښوده او سیده پاکستان ته لاړه او هلته یې یو او بل ته ویل چې ته اوس ده ته وګوره ملګری مې دی او داسې خبرې کوي چې ذبحه کوم دې، بیا ورته حذیفه تقبله الله پیغام پریښې و، چې زمونږ یو بل سره راشه درشه، مینه محبت، دوستي او دښمني د الله تعالی د دین په وجه دي، چې د الله تعالی د دین او اسلامي نظام دښمن وي که ورور مې وي هم زما دښمن دی او چې د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم تابعدار وي که د هر ځای وي زما ورور دی، چې د اسلامي نظام دښمني کوي ملګرتیا ملګرتیا نشته، سر تري په توره غوڅوم د الله تعالی په مدد سره.

یو بل مخکني ملګري ته یې جواب ورولېږه، هغه هم له ډاره پاکستان ته وتښتېده.

حذیفه د اسلامي دولت تمکین کې نهایت زیات خوشاله و، او شپه او ورځ د اسلامي خلافت په خدمت بوخت و، ډیر خدمتونه یې ومړل ، ډیر جنګونه یې وکړل او هر چاته به یې ویل زه په بصیرت راغلی یم ، ما ډیر تحقیق کړی ، ما همدې خلافت ته ډیرې لارې څارلې نو ځکه یې داسې په خدمت نه ستړی کیږم او نه مړیږم له ډیرو جګړو او سختو خونړیو نښتو وتلې حذیفه هم چې د روژې مبارکه میاشت وه د خپلو ملګرو سره په موټر کې تللی وو چې د ملګرو لپاره روژه ماتی او هندوانې راوړي، ژوره ماتې ته لږ وخت پاتې وو چې بیرته راستنیدو کې په ګاډي کې روان ول چې امریکایي بې پیلوټه الوتکې پرې برید وکړ او حذیفه سره د خپلو ملګرو د روژه ماتې څخه مخکې خپل روحونه پداسې حال کې الله ته وسپارل چې بدنونه یې ټوټه ټوټه وو، تقبلهم الله

***

نبي ﷺ فرمايي: (تاسې به د جزيرة العرب سره جګړه کوئ، الله به يې فتحه کړي، بيا به فارس سره وجنګېږئ، الله به يې فتحه کړي، بيا به له روم سره وجنګېږئ، الله به فتحه کړي او بيا به د دجال سره وجنګېږئ نو الله به يې فتحه کړي) [رواه مسلم]

مؤسسة العزائم

يې وړاندې کوي